# دَ یوحنا مُکاشفات

## پیژندګلو اَؤ سلام

۱ ۱ دا هغه کشف دے چه خُدائے عیسیٰ مسیح له ورکړو چه هغه خپلو غُلامانو ته
هغه خبرے وښائی چه کُومے به زر تر زره پیښیږی. هغهٔ خپله فرښته خپل غُلام یوحنا ته
راواستوله اَؤ دا خبرے ئے ورته وښایلے. ۲ اَؤ هغهٔ دَ خُدائے دَ کلام اَؤ دَ عیسیٰ
مسیح ګواهی ورکړه، هر څهٔ چه ئے ولیدل. ۳ بختور دے هغه څوک چه دا لولی اَؤ
بختور دی هغه خلق چه دَ پیشن ګوئی دا کلام آؤری اَؤ څهٔ چه په کښے لیک دی په هغه
عمل کوی، ځکه چه وخت نزدے دے.

۴ دَ یوحنا له طرفه دَ ایشیا صوبے دَ اُوو جماعتُونو په نوم:

په تاسو دِ فضل اَؤ سلامتی وی، دَ خُدائے له طرفه چه شته، چه وو اَؤ چه راتلُونکے
دے، اَؤ له هغه اُوو رُوحونو له طرفه چه دَ هغهٔ دَ تخت دَ وړاندے دی، ۵ اَؤ دَ عیسیٰ
مسیح وفادار ګواه چه له مړو نه اول ژوندے پاڅیدو اَؤ دَ زمکے دَ بادشاهانو سردار
دے.

هغه مُونږ سره مینه کوی اَؤ مُونږ ئے دَ خپلے وینے په قُربانئ له ګُناهُونو نه آزاد کړُو.
۶ اَؤ مُونږ ئے دَ خپل خدائے پلار دَ پاره دَ بادشاهت کاهنان جوړ کړلُو. دَ هغهٔ لوئی
اَؤ طاقت دِ تل تر تله قائم وی! آمین

۷ ګورئ، هغه په وریځو کښے راځی! هر څوک به ئے په خپلو سترګو وینی اَؤ
هغوئ به ئے هم، چا چه سُورے کړے وو، اَؤ دَ دُنیا ټول خلق به په هغه ویر کوی. دغه
شان به وی. آمین ۸ قادر مُطلق خُدائے وائی چه ”زهٔ الاول اَؤ الاخر یم، چه شته، چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو اَؤ چه راتلُونکے دے."

## دَ مسيح په باب کښے رويا

(۹) زَۀ ستاسو ورور يوحنا، په تکليف، په بادشاهئ اَؤ په صبر کښے تاسو سره خپل
عيسىٰ کښے شريک يم. زَۀ دَ خُدائے دَ کلام اَؤ دَ عيسىٰ په حقله دَ گواهئ ورکولو په
وجه دَ پتموس نومے په جزيره کښے قيد وم. (۱۰) اَؤ دَ مالِک په ورځ، يعنے دَ اِتوار
ورځ وه، چه رُوح په ما غلبه وکړه، نو ما دَ خپل شانه يو اُوچت آواز واؤريدو چه دَ سُرنا
په شان وو. (۱۱) هغۀ ما ته ووئيل چه "څۀ چه وينے هغه په يو کتاب کښے وليکه اَؤ اُووَ
واړو جماعتُونو ته ئے وليږه، يعنے اِفسوس، سمُرنه، پرگمون، تواتيره، سرديس،
فيلدِلفيه، اَؤ لوديکيه ته."

(۱۲) زَۀ وړپسے راوگرزيدلم چه دا څوک دے چه ما سره خبرے کوی؟ اَؤ کله چه زَۀ
راوگرزيدلم نو ما دَ سرو زرو اُووۀ ډيوټُونه وليدل. (۱۳) اَؤ دَ دے ډيوټُونو په مينځ کښے
يو دَ "اِبنِ آدم په شان" وو چه تر پښو پورے ئے چُوغه آغوستے وه اَؤ په سينه ئے دَ
سرو زرو سينه بند تاؤ کړے وو. (۱۴) دَ سر ويښتۀ ئے لکه دَ واؤرے يا سپينے وړئ په
شان سپين وُو اَؤ سترگے ئے دَ اور دَ شُغلو په شان وے. (۱۵) اَؤ پښے ئے دَ زيړو په
شان ځليدلے چه په بټئ کښے سرۀ شوے وی اَؤ آواز ئے دَ تيزو اوبو په شان وو. (۱۶)
اَؤ هغۀ په ښی لاس کښے اُووۀ ستوری نيولی وُو اَؤ دَ هغۀ دَ خُلے نه يوه تيزه دوه مخے
تُوره راووتله اَؤ دَ هغۀ څيره دَ تيز نمر په شان ځليده. (۱۷) کله چه هغه ما وليدو نو زَۀ
لکه دَ مړی دَ هغه په پښو کښے پريوتلم، خو هغۀ خپل ښئ لاس په ما کيښودو اَؤ وئے
وئيل، "وريږه مه، زَۀ الاول اَؤ الاخر يم، (۱۸) اَؤ القيوم، زَۀ مړ وم خو اوس تل تر تله
ژوندے يم اَؤ دَ مرگ اَؤ دَ عالم ارواح کُنجيانے ما سره دی. (۱۹) دَ دے دَ پاره هغه هر
څۀ وليکه څۀ چه تۀ وينے، څۀ چه اوس دی اَؤ څۀ چه راتلُونکی دی. (۲۰) تا چه زما په
ښی لاس کښے اُووۀ ستوری ليدلی دی اَؤ هغه اُووۀ دَ سرو زرو ډيوټونه، دَ هغے راز دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چه اُووۀ ستورى دَ اُوو جماعتُونو فرښتے دى اَؤ دا اُووۀ ډيوټُونه اُووۀ جماعتُونه
دى.

## دَ اِفسوس جماعت دَ پاره پيغام

٢ ١ دَ اِفسوس دَ جماعت فرښتے ته وليکه :

هغه درته خبرے کوى چا چه اُووۀ ستورى په خپل لاس کښے نيولى دى اَؤ دَ سرو زرو
دَ اُوو ډيوټُونو په مينځ کښے ګرزى. ٢ زَۀ ستا په کارُونو په خوارئ اَؤ په صبر خبر
يم. زَۀ په دے خبر يم چه تۀ ګُناه ګار خلق نۀ شے زغملے، تا دَ رسُولانو آزميښت وکړو
چه ځان ته رسُولان وائى خو نۀ دى، اَؤ دروغژن دِ ثابت کړى دى. ٣ ته صبر لرے، تا
زما دَ نُوم په خاطر زغم وکړو اَؤ ستومانه نۀ شوے. ٤ خو زَۀ ستا په خلاف دا خبره
کوم چه تا هغه وړُومبۍ مينه پريښے ده. ٥ فکر وکړه چه تۀ دَ څومره اُوچت ځائے نه
پريوتلے! توبه وباسه اَؤ هغسے کار وکړه لکه چه مخکښے دِ کړے وو. که تۀ توبه ونۀ
باسے نو زَۀ به درشم اَؤ ستا ډيوټ به دَ خپل ځائے نه لرے کړم. ٦ خو بيا هم يوه
خبره ستا په حق کښے شته چه تۀ دَ نيکليانو دَ کارُونو نه نفرت کوے لکه چه زَۀ ئے
ترے کوم.

٧ هغه څوک چه دَ آؤريدلو غوږُونه لرى، هغه دِ واؤرى چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته
څۀ وائى.

هر هغه څوک چه بريالے شى نو زَۀ به دَ ژوندُون دَ ونے نه دَ ميوے دَ خوړلو اِختيار
ورکړم چه دَ خُدائے په جنت کښے ولاړه ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ سُمرنه جماعت دَ پاره پیغام

٨ دَ سُمرنه دَ جماعت فرښتے ته ولیکه :

څوک چه الاول اَوُ الاخر دے، چه مړ شو اَوُ بیا ژوندے شو، هغه داسے وائی، ٩ زۀ
خبر یم چه تۀ څومره خوار اَوُ په تنګسیا کښے یئے، خو بیا هم تۀ شته من یئے! زۀ دَ
هغه خلقو دَ کُفر وئیلو نه خبر یم چه ځان ته یهُودیان وائی خو دی نه. دا دَ شیطان دَ
ډلے دی. ١٠ دَ راتلُونکو تنګساؤ نه ویرېږه مه. اِبلیس به له تاسو نه ځنے بندی خانو ته
واچوی چه تاسو وآزمائیلے شئ اَوُ تر لسو ورځو پورے به په تاسو تنګسیا وی. خو تر
مرګه پورے وفادار پاتے شه اَوُ زۀ به دَ ژوندُون تاج در په سر کړم.

١١ هغه څوک چه دَ آؤریدو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته
څۀ وائی.

هر هغه څوک چه بریالے شی نو دویم مرګ به هغۀ ته هیڅ عذاب نۀ شی رسولے.

## دَ پرګمون جماعت دَ پاره پیغام

١٢ دَ پرګمون دَ جماعت فرښتے ته ولیکه :

هغه څوک چه تیره دوه مخے تُوره لری هغه داسے وائی، ١٣ زَۀ خبر یم چه تۀ چرته
اوسے، دا هغه ځائے دے چرته چه دَ شیطان تخت دے اَوُ تۀ زما په نُوم مظبُوط ولاړ
یئے. تا په هغه وخت هم دَ خپل ایمان نه اِنکار ونۀ کړو کله چه زما وفادار ګواه انتیپاس
ستاسو په هغه ښار کښے ووژلے شو چرته چه شیطان اوسیږی. ١٤ خو زَۀ ستا
برخلاف دَ یو څو خبرو شکایت لرم چه تاسو په کښے هلته څۀ کسان شته چه دَ بلعام دَ
تعلیم پیروی کوی. هغۀ بلق ته وښوول چه بنی اِسرائیل دَ لارے نه خطا کړی اَوُ دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترغيب ئے ورکړو چه دَ بُتانو قُربانئ دِ وخوری اَؤ حرامکاری دِ وکړی. ۱۵ اَؤ هم دغه
شان په تاسو کښے ځنے کسان شته چه دَ نیکلیانو دَ تعلیم پیروی کوی. ۱۶ نو توبه
وباسه! ګنی زَهٔ به درشم اَؤ په هغه تُوره به دَ هغوئ سره جنګ وکړم کُومه چه زما دَ
خُلے نه راوزی.

۱۷ هغه څوک چه دَ آؤریدلو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته
څهٔ وائی.

هر هغه څوک چه بریالے شی نو زَهٔ به هغهٔ له پټ شوی من اَؤ یو سپین کاڼے ورکړم اَؤ
په هغه کاڼی به یو نوے نُوم لیکلے وی چه بے له هغه چا نه چه ورکولے شی، بل هیچا
ته به معلُوم نهٔ وی.

## دَ تواتیره جماعت دَ پاره پیغام

۱۸ دَ تواتیره دَ جماعت فرښتے ته ولیکه :

دَ خُدائے زوئے داسے فرمائی چه دَ چا سترګے چه دَ اور دَ شُغلو په شان دی اَؤ چه
پښے ئے دَ زیړو په شان ځلیږی، ۱۹ زَهٔ ستا دَ ټولو کارُونو نه خبر یم، یعنے ستا مینه،
وفاداری، ښهٔ خدمت اَؤ ستا صبر راته معلُوم دے، وروستو خو تا دَ وړاندے نه هم غوره
کارُونه کړی دی. ۲۰ خو بیا هم ستا په خلاف دا شکایت لرم چه تهٔ هغه اِزبلی نُومے
ښځه زغمے چه ځان ته پیغمبره وائی اَؤ زما خادمانو ته دَ حرامکارئ ترغیب ورکوی اَؤ
دَ بُتانو دَ قُربانئ دَ خوړلو اِجازت ورکوی. ۲۱ ما هغے ته دَ توبے ویستلو وخت ورکړو
خو هغے دَ خپلے حرامکارئ نه دَ توبے ایستو نه اِنکار وکړو. ۲۲ نو زَهٔ به هغه په کټ
وغورزوم اَؤ هغوئ چه ورسره ئے زِنا کړے ده. زَهٔ به ئے په ډیره سخته تنګسیا کښے
راګیر کړم تر څو چه هغوئ دَ هغے دَ کړو نه توبه ونهٔ وباسی. ۲۳ اَؤ دَ هغے بچی به په
مزکه ووژنم. په دے به ټول جماعتُونه دا سبق حاصل کړی چه زَهٔ دَ بنی آدمو دَ زړُونو اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دَ خيالاتو نه خبر يم اَؤ دا چه زَۀ به تاسو ټولو ته دَ خپل عمل په مُطابق جزا درکړم.

۲۴ اَئے دَ تواتيره نورو اوسيدُونکو! چه دا تعليم نۀ منئ اَؤ له هغه نه ناخبر يئ کُومے ته
چه هغوئ دَ شيطان پټ اَؤ ژور چال وائی، زَۀ تاسو ته وايم چه زَۀ به په تاسو نور بار
وانۀ چوم. ۲۵ بس په هغه څۀ تر هغے ټينګ پاتے شئ تر څو چه زَۀ درنۀ شم. ۲۶ هغه
څوک چه بريالے شی اَؤ هغه چه زما دَ وينا په مُطابق تر آخره عمل کوی نو زَۀ به ورله
په قومُونو اِختيار ورکوم. ۲۷ ”هغه به پرے دَ اوسپنے په امسا حُکومت کوی اَؤ دَ
خاورو دَ لوښو په شان به ئے ټوټے ټوټے کړی.“ هغه اِختيار ما ته له خپل پلار نه
راکړے شوے دے. ۲۸ اَؤ زَۀ به هغۀ ته دَ صبائی ستورے ورکړم.

۲۹ هغه څوک چه دَ آؤريدلو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته
څۀ وائی.

## دَ سرديس جماعت دَ پاره پيغام

۳ ۱ دَ سرديس دَ جماعت فرښتے ته وليکه :

څوک چه دَ خُدائے اُووۀ رُوحُونه اَؤ اُووۀ ستوری لری هغه دا وائی چه زَۀ ستا په ټول
عمل خبر يم چه تۀ تش په نُوم ژوندے يئے خو ئے مړ. ۲ بيدار شه اَؤ څۀ چه پاتے
دی، هغه مظبُوط کړه، ګنی هغه به مړ شی. ستا يو کار مے هم زما دَ خُدائے په نظر
کښے پُوره ونۀ ليدلو. ۳ کُوم تعليم چه تا ومُوندلو اَؤ واؤريدلو، هغه ياد لره اَؤ عمل
پرے کوه اَؤ توبه وباسه. که تۀ بيدار نۀ شے نو زَۀ به دَ غل په شان درشم اَؤ تۀ به زما دَ
راتلو دَ وخت نه خبر نۀ شے. ۴ خو بيا هم په سرديس کښے تاسو سره څُنے داسے
کسان شته چه هغوئ خپلے جامے پليتے کړے نۀ دی، هغوئ به ما سره په سپينو
جامو کښے ګرزی ځکه چه هغوئ لائق دی. ۵ هر هغه څوک چه بريالے شی نو هغۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته به دغسې سپینې جامې ور آغوستولې شی اَؤ دَ هغهٔ نُوم به زَهٔ هیڅ کله هم دَ ژوند
له کتاب نه ونهٔ باسم اَؤ زَهٔ به دَ خپل پلار اَؤ دَ هغهٔ دَ فرښتو دَ وړاندې دَ هغهٔ دَ نُوم اِقرار
وکړم چه هغه زما خپل دے. ۶ هغه څوک چه دَ آؤریدو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری
چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته څهٔ وائی.

## دَ فیلدِلفیه دَ جماعت دَ پاره پیغام

۷ دَ فیلدِلفیه دَ جماعت فرښتې ته ولیکه :

هغه څوک چه قدُوس اَؤ رښتینے دے اَؤ چه ورسره دَ داؤد کُنجی ده اَؤ چه دروازه
خلاصه کړی نو هیڅوک به ئې بنده نهٔ کړی اَؤ چه دروازه بنده کړی نو هیڅوک به ئې
خلاصه نهٔ کړی، هغه داسې وائی چه ۸ زَهٔ ستا دَ ټولو کارُونو نه خبر یم. اَؤ ګوره، تا
ته مې ستا په وړاندې یوه دروازه خلاصه کړې ده چه هیڅوک ئې بندولے نهٔ شی. زَهٔ
پوهیږم چه ستا طاقت کم دے خو بیا هم تا زما کلام منلے دے اَؤ زما دَ نُوم نه مُنکر
شوے نهٔ ئې. ۹ ګوره، دَ شیطان دَ ډلې نه به ځِنې راولم چه ځان ته یهُودیان وائی
خو نهٔ دی بلکه فریبیان دی، هغوئ به درشی اَؤ ستا په پښو به پریوزی اَؤ هغوئ دِ په دے
پوهه شی چه تهٔ زما محبوب یئې. ۱۰ ځکه چه تا زما دَ صبر کلام منلے دے اَؤ
مظبُوط پرې ولاړ یئې، زَهٔ به هم تا دَ هغه آزمیښت نه چه دَ ټولې دُنیا په خلقو راتلُونکے
دے، بچ کړم. ۱۱ زَهٔ به زر درشم اَؤ څهٔ چه درسره دی هغه کلک ونیسه چه هیڅوک دِ
دَ خپل تاج نه محرُومه نهٔ کړی. ۱۲ څوک چه بریالے شی زَهٔ به هغه دَ خپل خُدائے په
کور کښې لکه دَ ستنې ودروم، هغه به هیڅ کله ترې بهر نهٔ شی. زَهٔ به دَ خپل خُدائے
نُوم په هغهٔ باندې ولیکم اَؤ دَ خُدائے دَ ښار نُوم هم چه نوے بیتُ المُقدس دے چه دَ
خُدائے له طرفه به له آسمانه راکُوزیږی، اَؤ خپل نوے نُوم به هم په هغهٔ باندې ولیکم.
۱۳ هغه څوک چه دَ آؤریدلو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته
څهٔ وائی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ لودیکیه جماعت دَ پاره پیغام

۱۴ دَ لودیکیه دَ جماعت فرښتے ته ولیکه :

دا دَ هغه چا کلام دے چه ورته آمین وائی، چه هغه وفادار رښتینے ګواه دے اَؤ دَ هغهٔ
په وسیله خُدائے هر څهٔ پیدا کړل. هغه فرمائی چه ۱۵ زَهٔ ستا دَ ټولو کارُونو نه خبر یم،
تهٔ خو نهٔ یخ یے اَؤ نهٔ ګرم. کاشکے چه تهٔ یا خو یخ وے یا ګرم! ۱۶ خو څُونکه نهٔ خو
تهٔ ګرم ئے اَؤ نهٔ یخ، بلکه ترېم یئے، زَهٔ به تا دَ خپلے خُلے نه وتُوکم. ۱۷ تهٔ وائے چه
زَهٔ خومره شته من یم اَؤ دولتمند شوے یم اَؤ دَ څهٔ څیز حاجتمن نهٔ یم. حقه خو دا ده
چه تهٔ په دے نهٔ پوهېږے چه تهٔ څومره قابلِ رحم، بدنصیب، خوار، ړُوند اَؤ برېنډ یئے.
۱۸ زَهٔ تا له دا صلاح درکوم چه له ما نه په اور کښے صفا شوی سرهٔ زر واخله چه
شته من شے اَؤ سپینے جامے واخله چه تهٔ خپل برېنډتوب شرم پرے پټ کړے اَؤ دَ
سترګو رانجهٔ را نه واخله چه تهٔ بینا شے. ۱۹ هر چا سره چه مینه لرم هغوئ زَهٔ
ملامت کوم اَؤ په ادب ئے ساتم، نو ځکه غیرت وکړه اَؤ توبه وکړه. ۲۰ ګوره، زَهٔ په
دروازه ولاړ یم اَؤ ورټکوم اَؤ که څوک زما آواز واؤری اَؤ ور خلاص کړی نو زَهٔ به
ورننوزم اَؤ دَ هغهٔ سره به ډوډئ وخورم اَؤ هغه به ئے ما سره وخوری. ۲۱ چه څوک
بریالے شی نو هغه به په خپل تخت کښینوم لکه څنګه چه زَهٔ بریالے شوم اَؤ دَ خپل
پلار سره په تخت کښناستم. ۲۲ هغه څوک چه دَ آؤریدلو غوږُونه لری، هغه دِ واؤری
چه رُوحُ القُدس جماعتُونو ته څهٔ وائی."

## دَ اِلٰهی عِبادت

۴ ۱ دَ دے نه پس ما وکتل اَؤ څهٔ ګورم چه په آسمان کښے یو پرانستے ور دے.

اَؤ ما دَ مخکښے په شان لکه دَ سُرنا آواز واؤریدو چه ما ته ئے وئیل، "دلته راوخیژه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زَهٔ به تا ته دا وښايم چه دَ دے نه پس به خامخا کيږی.“ ۲ سمدستی ما دَ رُوحُ الْقُدس
په وسيله رويا وليده چه په آسمان کښے يو تخت وو اَؤ په تخت يو کس ناست وو ۳
چه دَ زبرجد اَؤ عقيق په شان پړقيدو، اَؤ دَ تخت نه چاپيره دَ بُوډئ ټال وو چه دَ زمرُدو په
شان پړقيدو. ۴ اَؤ دَ تخت نه ګير چاپيره څلريشت نور تختُونه وُو اَؤ په هغوئ
څليريشت مشران ناست وُو چه سپينے جامے ئے آغوستے وے اَؤ دَ سرو زرو
تاجُونه ئے په سر وُو. ۵ اَؤ دَ تخت نه دَ بريښنا رڼا اَؤ دَ تندر آوازُونه راختل اَؤ دَ تخت
نه وړاندے اُووهٔ مشعلُونه بليدل چه دَ خُدائے اُووهٔ رُوحونه دی. ۶ اَؤ وړاندے ئے دَ
شيشے سمندر چه دَ بلور په شان ښکاريدو.

اَؤ دَ تخت نه چاپيره څلور حيونان وُو چه وړاندے وروستو ئے سترګے وے. ۷ اول
حيوان دَ زمری په شان وو، دويم دَ غوائی په شان، دريم دَ بنی آدم څيره لرله اَؤ څلورم
لکه دَ الوتُونکی عُقاب په شان وو. ۸ دے څلورو حيوانانو چه هر يو شپږ وزرے لرلے
اَؤ هر طرف ته ئے سترګے وے، شپه اَؤ ورځ بغير دَ دمے ئے دا ثنا وئيله:

”قدُوس! قدُوس! قدُوس! رب القادر دَ ټولو،

هغه چه وو، چه دے، اَؤ چه راتلُونکے دے.“

۹ اَؤ هر کله چه حيوانان دَ هغهٔ چه په تخت ناست دے اَؤ تل تر تله ژوندے دے،
لوئی، عزت اَؤ شکر ګذاری وکړی، ۱۰ نو هغه څليريشت مشران هم چه په تخت ناست
دی، هغهٔ ته په سجده پريوزی اَؤ عبادت ئے کوی چه تل تر تله ژوندے دے، اَؤ هغوئ
خپل تاجُونه دَ تخت دَ وړاندے کيږدی اَؤ په چغو شی:

۱۱ ”اَئے زمُونږ مالِکه خُدايه! تهٔ دَ عزت، لوئی اَؤ قُدرت مالِک يئے ځکه چه تا هر څهٔ
پيدا کړل اَؤ دا ستا په مرضئ پيدا شول اَؤ په وجُود کښے راغلل.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# کتاب اَوُ ګډورے

۵ ⑴ څوک چه په تخت ناست وو ما دَ هغهٔ په ښى لاس کښے يو کتاب وليدو چه
دَننه اَوُ بهر ليک پرے وو اَوُ اُووهٔ مُهرُونه پرے لګيدلى وُو. ⑵ ما يوه طاقتوره فرښته
وليده چه په چغو ئے وئيل چه "څوک دَ دے قابل دے چه کتاب پرانزى اَوُ مُهرُونه ئے
مات کړى؟" ⑶ خو هيڅوک هم نهٔ وو، نهٔ په آسمان کښے، نهٔ په مزکه اَوُ نهٔ دَ مزکے دَ
لاندے وو چه کتاب ئے خلاص کړے وے اَوُ يا ئے دننه کتلے وے. ⑷ زما اوښکے
بهيدلے ځکه چه هيڅوک هم دَ دے لائق نهٔ وو چه دا کتاب ئے پرانستلے شو يا چه ئے
ورته کتلے شو. ⑸ خو په مشرانو کښے يو راته ووئيل چه "ژاړه مه ځکه چه دَ يهوداه
دَ خيل زمرے چه دَ داؤد دَ اصل نه دے، هغه بريالے شوے دے چه کتاب پرانزى اَوُ
اُووهٔ مُهرُونه ئے مات کړى."

⑹ بيا ما دَ تخت په مينځ کښے، دَ څلورو حيوانانو اَوُ دَ مشرانو په دائره کښے لکه يو
حلال شوے ګډورے ولاړ وليدو اَوُ دَ هغهٔ اُووهٔ ښکرُونه اَوُ اُووهٔ ئے سترګے وے چه دَ
خُدائے اُووهٔ رُوحونه دى چه ټولے دُنيا ته ليږلى شوى دى. ⑺ اَوُ ګډُورے ورغے اَوُ په
تخت ناست دَ ښى لاس نه ئے هغه کتاب واخستو. ⑻ کله چه هغهٔ واخستو نو څلور
حيوانان اَوُ څليريشت مشران دَ هغه ګډُورى په وړاندے په سجده شول، اَوُ دَ هر يو مشر
سره يو ستار وو اَوُ ورسره دَ خوشبوئ نه ډک دَ سرو زرو جامُونه وُو چه دَ پاکانو
دُعاګانے دى. ⑼ اَوُ هغوئ يوه نوے سندره وئيله چه :

"تهٔ دَ دے لائق ئے چه کتاب واخلے اَوُ مُهرُونه ئے مات کړے ځکه چه تهٔ حلال کړے
شوے اَوُ په خپله وينه دے دَ خُدائے دَ پاره له هر خيل، له هرے ژبے اَوُ له هر قوم اَوُ
اُمت خلق په بيعه واخستل. ⑽ اَوُ له هغوئ نه تا دَ کاهنانو بادشاهى جوړه کړه چه
زمُونږ دَ خُدائے خدمت وکړى اَوُ هغوئ به په مزکه بادشاهى کوى."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ بیا چه ما وکتل نو دَ بے شماره فرښتو آوازُونه مے واؤریدل چه هغه دَ تخت اَؤ دَ
حیوانانو اَؤ دَ مشرانو نه چاپیره وے اَؤ دَ هغوئ شمار په زرګُونو اَؤ لکُونو کښے وو،
١٢ اَؤ هغوئ په زوره چغے وهلے چه :

"هغه ګډُورے چه حلال کړے شو، دَ دے لائق دے چه ټول قُدرت، دولت، حِکمت، لوئی، عزت، شان اَؤ تعریف ومُومی!"

١٣ اَؤ بیا ما واؤریدل چه ټول مخلُوقات چه په آسمان کښے، په مزکه باندے، دَ مزکے
دَ لاندے یا په سمندر کښے دی، هغوئ ټولو چغے وهلے چه :

"دَ هغه چا خوک چه په تخت ناست دے اؤ ګډُوری ته شکر، عزت، شان اَؤ قُدرت دِ تل تر تله وی!"

١۴ اَؤ دا څلورو حیوانانو "آمین!" پرے ووے اَؤ مشران دَ عبادت دَ پاره په سجده
پریوتل.

## مُهرُونه

٦ ١ بیا ما ولیدل چه هغه ګډُوری په اُوو مُهرُونو کښے یو مُهر مات کړو اَؤ ما دَ
څلورو حیوانانو نه په یوه کښے دَ تندر په شان دا آواز واؤریدو چه "راشه!" ٢ اَؤ ما
وکتل چه هلته یو سپین آس وو اَؤ دَ سوارۀ سره ئے لینده وه. هغۀ ته تاج ورکړے شو اَؤ
هغه په آس سور لاړو چه فتح بیا مُومی.

٣ هر کله چه ګډوری دویم مُهر مات کړو نو ما واؤریدل چه دویم حیوان وائی چه
"راشه!" ۴ اَؤ یو بل اس راغے چه تک سُور وو اَؤ دَ هغۀ سوارۀ ته دا اِختیار ورکړے
شو چه دَ مزکے نه امن یوسی اَؤ چه سړی یو بل وژنی، اَؤ هغۀ ته یوه لویه تُوره ورکړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه.

۵ کله چه ګډُورى دريم مُهر مات کړو نو ما دَ دريم حيوان دا آواز واؤريدو چه
"راشه!" نو زَهٔ څهٔ ګورم چه يو تور آس راغے اَؤ دَ هغهٔ دَ سوارهٔ په لاس کښے يو تله
وه. ۶ اَؤ ما دَ څلورو حيواناتو دَ مينځه يو آواز واؤريدو چه وئيل ئے چه "دَ ټولے
ورځے مزدُورى دَ درے پاوه غنمو په سر اَؤ دَ ټولے ورځے مزدورى دَ نهه پاوه
وربشے په ډوډئ، خو دَ ښوناتو تيلو اَؤ شرابو ته نقصان مه رسوئ."

۷ کله چه ګډُورى څلورم مُهر مات کړو نو ما دَ څلورم حيوان دا آواز واؤريدو چه
"راشه!" ۸ اَؤ زَهٔ څهٔ ګورم چه زيړ آس وو اَؤ دَ سوارهٔ نُوم ئے مرګ وو اَؤ عالمِ
ارواح ورپسے جُخت راروان وو. هغوئ ته دَ څلورمے برخے مزکے اِختيار ورکړے
شوے وو چه په جنګ، په قحط، په وبا اَؤ په ځنګلى ځناورو خلق مړهٔ کړى.

۹ هر کله چه ګډُورى پينځم مُهر مات کړو نو ما دَ قُربان ګاه دَ لاندے دَ هغو خلقو
رُوحُونه وکتل چه دَ خُدائے دَ کلام اَؤ دَ خپلے ګواهئ په وجه قتل کړى شوى وُو. ۱۰
هغوئ په زوره چغه کړه چه "مالِکه! پاکه اَؤ رښتُونى خُدايه! تر څو به فيصله ونهٔ کړے
اَؤ دَ مزکے دَ اوسيدُونکو نه به زمُونږ دَ وينے بدل وانهٔ خلے؟" ۱۱ هر يو ته سپينه
چُوغه ورکړے شوه اَؤ ورته ووئيلے شول چه "لږ شان تر هغے صبر وکړئ چه ستاسو
ټول ورُونه اَؤ په خدمت کښے ملګرى ستاسو په شان ونهٔ وژلے شى." ۱۲ بيا ما وکتل
چه ګډُورى شپږم مُهر مات کړو اَؤ يوه سخته زلزله راغله اَؤ نمر دَ جنازے دَ ټاټ په
شان تور شو اَؤ سپوږمئ لکه دَ وينو سره شوه. ۱۳ اَؤ ستورى له آسمان نه په مزکه
داسے راپريوتل لکه چه دَ اِينځر نه دَ سيلئ په وجه کچه ميوه راپريوزى. ۱۴ اَؤ آسمان
داسے فنا شو لکه کتاب چه ټپ کړے شى اَؤ هر غر اَؤ هره جزيره دَ خپله ځايه
وخوزيده. ۱۵ نو بيا دَ مزکے بادشاهانو، سردارانو، جرنيلانو، شته منو، طاقتورو،
غُلامانو اَؤ آزادو ټولو خلقو په غارُونو اَؤ دَ غرُونو په ګټانو کښے خپل ځانُونه پټ کړل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ اَؤ هغوئ غرُونو اَؤ ګټانو ته چغې کړې چه ”په مُونږ راپرېوزئ اَؤ مُونږ په تخت دَ
پاسه ناست دَ مخې نه اَؤ دَ ګډُورى دَ غضب نه پټ کړئ! ۱۷ ځکه چه دَ هغوئ دَ
غضب لويه ورځ راغلې ده اَؤ څوک ورته ټينګېدې شى؟“

## په يو لک څلور څلويښتو زرو بنى اِسرائيلو مُهر لګيدل

۷ ۱ دَ دې نه پس ما څلور فرښتې دَ مزکې په څلورو ګوټُونو ولاړې وليدلې اَؤ
څلور واړه بادُونه ئې ځکه راټينګ کړى وُو چه په سمندر، مزکه يا په يوه وُنه هم باد ونۀ
لګى. ۲ بيا ما بله فرښته له نمرخاتۀ نه په راختو وليده چه دَ رب الحئ مُهر ورسره وو
اَؤ هغه څلورو فرښتو ته ئې په زوره وئيل، چه چا ته په مزکه اَؤ سمندر دَ نقصان
ورکولو اِختيار ورکړې شوې وو، ۳ ”تر هغې سمندر، مزکې اَؤ ونو ته نقصان مه
رسوئ تر څو چه مُونږ دَ خُدائې مُهر دَ هغۀ دَ خادمانو په تندو نۀ وى لګولې.“ ۴ اَؤ
ما چه دَ هغوئ شمار واؤريدو چا ته چه مُهرُونه لګولى شوى وُو اَؤ دَ اِسرائيل دَ ټولو
خيلُونو نه په يو لک څلور څلويښت زرو مُهر ولګولې شو. ۵ دولس زره له يهُوداه دَ
خيل نه، دولس زره دَ روبين له خيل نه، دولس زره له ګاد له خيل نه، ۶ دولس زره دَ
اشير له خيل نه، دولس زره دَ نفتالى له خيل نه، دولس زره دَ منشه له خيل نه، ۷
دولس زره دَ شمعُون له خيل نه، دولس زره دَ ليوى له خيل نه، دولس زره دَ يساکار له
خيل نه، ۸ دولس زره دَ زبُولون له خيل نه، دولس زره دَ يُوسف له خيل نه اَؤ دولس
زره دَ بنيامين له خيل نه وُو.

## دَ ټولو قومُونو لويه ګڼه

۹ اَؤ له دې نه پس ما دَ خلقو لويه ګڼه وليده چه بيشماره وه، دا دَ ټولو قومُونو، ټولو
خيلُونو اَؤ دَ مُختلفو ژبو دَ ويُونکو خلقو جمع دَ تخت اَؤ دَ ګډُورى دَ وړاندې ولاړه وه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ هغوئ سپينے جامے آغُوستے وے اَؤ دَ کجُورو ښانګے ئے په لاسُونو کښے نيولے
وے. ١٠ اَؤ په زوره ئے دا چغے وهلے چه ”خلاصُون زمُونږ دَ خُدائے دے چه په
تخت ناست دے، اَؤ دَ ګډُوری.“ ١١ اَؤ دَ تخت نه چاپيره چه څومره فرښتے ولاړے
وے اَؤ مشران اَؤ څلور حيوانان اَؤ ټولے فرښتے دَ تخت په وړاندے پړمخے پريوتل اَؤ
دَ خُدائے عبادت ئے وکړو ١٢ چه چغے ئے وهلے چه ”آمين! برکت، لوئی، حِکمت،
شکر ګذاری، عزت، قُدرت اَؤ زور دِ تل تر تله زمُونږ دَ خُدائے وی! آمين.“

١٣ بيا په مشرانو کښے يو ما ته مخ راواړولو اَؤ تپوس ئے وکړو چه ”دا خلق چه
سپينے جامے ئے آغوستے دی، څوک دی اَؤ دَ کُومے راغلی دی؟“

١٤ ما جواب ورکړو چه ”زما مالِکه! تهٔ خبر ئے، نهٔ چه زهٔ.“

بيا هغهٔ ما ته ووئيل چه ”دا هغه کسان دی چه دَ لوئے تنګسيا نه راغلی دی، هغوئ
خپلے جامے دَ ګډُوری په وينو وينځلے اَؤ سپينے کړے دی. ١٥ ځکه خو دوئ دَ
خُدائے دَ تخت دَ وړاندے ولاړ دی اَؤ دَ خُدائے په کور کښے شپه اَؤ ورځ دَ هغهٔ په
عبادت کښے لګيا دی، اَؤ هغه چه په تخت ناست دے، به دَ دوئ سره اوسيږی. ١٦
دوئ به بيا هيڅ کله نهٔ وږی کيږی، نهٔ تږی کيږی، نمر به دوئ نهٔ تنګوی اَؤ نهٔ به تيزه
ګرمی تکليف وررسوی. ١٧ ځکه چه کُوم ګډُورے چه دَ تخت په مينځ کښے دے، هغه
به دَ دوئ شپُونکے وی اَؤ دوئ به دَ ژوند دَ اوبو چينو ته بيائی، اَؤ خُدائے به دَ دوئ دَ
سترګو نه ټولے اوښکے پاکے کړی.“

## اُووم مُهر اَؤ دَ سرو زرو مُجمره

٨ ١ اَؤ کله چه ګډُوری اُووم مُهر مات کړو نو تقريباً تر نيمے ګينټے پورے په
آسمان کښے قلاره قلاری وه. ٢ بيا ما وليدل چه دَ خُدائے په وړاندے چه کُومے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اُووهٔ فرښتے ولاړے وے، هغوئ ته اُووهٔ سُرنا ورکړے شوے.

٣ بيا يوه بله فرښته دَ سرو زرو مُجمره په لاس راغله اَؤ دَ قُربانګاه سره ودريده اَؤ
هغے ته ډيره زياته خوشبُوئ ورکړے شوه چه دَ تخت دَ وړاندے دَ سرو زرو په قُربانګاه
ئے دَ ټولو پاکانو دَ دُعا سره پيش کړی. ٤ اَؤ دَ فرښتے دَ لاس نه دَ خوشبُوئ دَ
سوزولو لوګے دَ پاکانو دَ دُعا سره پاس خُدائے ته لاړ. ٥ بيا فرښتے مُجمره
راواخسته، دَ قُربانئ دَ اور نه ئے ډکه کړه اَؤ په مزکه ئے راګُذار کړه، نو بيا دَ تندر
آوازُونه، بريښنا اَؤ زلزله راغله.

## دَ سُرنا آواز

٦ بيا هغه اُووهٔ فرښتے چه ورسره اُووهٔ سُرنا وے، غږولو ته تيارے شوے.

٧ کله چه اولنئ فرښتے خپله سُرنا وغږوله نو اور اَؤ ږلئ دَ وينے سره په مزکه
راووريدل اَؤ دَ مزکے دريمه حصه ئے وسوزوله اَؤ دَ ونو دريمه حصه وسوزيده اَؤ ټول
شنهٔ واښهٔ وسوزيدل.

٨ اَؤ هر کله چه دويمے فرښتے خپله سُرنا وغږوله نو داسے لکه دَ يو لوئے غر چه
پرے اور بليدو، سمندر ته وغورزولے شو اَؤ دَ سمندر دريمه حصه وينه شوه، ٩ اَؤ
په کښے دريمه حصه ژوندی سړی مړهٔ شول اَؤ دريمه حصه جهازُونه په کښے غرق
شول.

١٠ کله چه دريمے فرښتے خپله سُرنا وغږوله نو يو لوئے ستورے له آسمان نه ګُذار
شو چه دَ مشعل په شان بليدو اَؤ هغه دَ سيندُونو اَؤ چينو په دريمه حصه ورپريوتو. ١١
دَ ستوری نُوم مستياره وو. اَؤ دَ اوبو دريمه حصه دَ مستيارے په شان ترخه شوه اَؤ ډير
زيات خلق دَ دے ترخو اوبو ښلو په وجه مړهٔ شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ کله چه څلورمے فرښتے خپله سُرنا وغږوله نو دَ نمر دريمه حِصه اَؤ دَ سپوږمئ
اَؤ دَ ستورو دريمه حِصه ووهلے شوه اَؤ دَ دغو دريمه حِصه تيارهٔ شوه اَؤ دَ ورځے
دريمه حِصه رڼا ختمه شوه اَؤ دغه شان دَ شپے هم.

١٣ بيا ما وليدل چه يو عُقاب په نيم آسمان کښے والوتو اَؤ په چغو ئے نعرے وهلے
چه "اَفسوس! اَفسوس! اَفسوس! دَ مزکے په اوسيدُونکو باندے، په وجه دَ هغه پاتے
درے فرښتو په سُرنا چه اوس به ئے وغږوى."

٩ ١ بيا هغه پينځمے فرښتے خپله سُرنا وغږوله اَؤ ما يو ستورے وليدو چه دَ
آسمان نه مزکے ته راپرېوتے وو اَؤ هغه ستورى ته دَ عالمِ ارواح کُنجيانے ورکړے
شوے وے. ٢ دَ دے سره هغهٔ عالمِ ارواح پرانستلو اَؤ دَ هغه کندے نه دَ لوئے بټئ په
شان لُوګے راوختلو اَؤ دَ عالمِ ارواح لُوګی نمر اَؤ باد تور کړل. ٣ بيا دَ لُوګی نه په
مزکه ملخان راغلل اَؤ هغوئ ته دَ مزکے دَ لړمانو په شان اِختيار ورکړے شو. ٤
هغوئ ته دا وئيلے شوى وُو چه واښو، ونو، اَؤ بُوټو ته هيڅ نُقصان ونهٔ رسوئ خو بس
هغه کسانو ته ټک ورکړئ دَ چا په تندى چه دَ خُدائے مُهر نهٔ وو لګيدلے. ٥ هغوئ ته
دَ وژلو اِختيار نه، خو تش لکه دَ لړم دَ لشے تر پينځو مياشتو پورے دَ عذابولو اِختيار
ورکړے وو. ٦ په دے دوران کښے به دا کسان په زارو مرګ وغواړى خو دوئ به
ئے ونهٔ مُومى، هغوئ به دَ مرګ خواهش لرى خو مرګ به ترے تښتى. ٧ دا ملخان
جنګ ته دَ تيار کړو اَسونو په شان ليدلے شول اَؤ په سرُونو ئے دَ سرو زرو په شان
تاجُونه وُو اَؤ دَ هغوئ مخُونه دَ اِنسان په شان وُو. ٨ اَؤ ويښتهٔ ئے دَ ښځو په شان اَؤ
دَ هغوئ غاښُونه دَ مزرو دَ غاښُونو په شان وُو. ٩ اَؤ دَ اوسپنے په شان زغرے ئے
اغوستے وے اَؤ دَ هغوئ دَ وزرو آواز دَ آسُونو اَؤ بګيانو په شان وو کُومے چه دَ جنګ
ميدان ته ځى. ١٠ دَ هغوئ لکئ دَ لړمانو په شان وے چه په کښے لَشے وے اَؤ دَ
هغوئ په لکو کښے دَ بنى آدمو دَ عذابولو تر پينځو مياشتو طاقت وو. ١١ اَؤ دَ دوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه دَ عالمِ ارواح فرښته وه چه په عبرانئ کښے دَ هغے نُوم ابدون، اَؤ په يُونانئ ژبه
کښے اپوليون دے، يعنے تباه کوُونکے.

۱۲ اوس اولنے اَفسوس تير شو خو دوه نور لا راتلُونکی دی.

۱۳ بيا هغه شپږمے فرښتے خپله سُرنا وغږوله اَؤ ما يو آواز واؤريدو کُوم چه دَ
خُدائے په وړاندے ولاړ دَ سرو زرو په قُربان گاه دَ څلورو ښکرُونو دَ مينځ نه راووتو.
۱۴ هغهٔ شپږمے فرښتے ته ووئيل چه دَ چا سُرنا وه چه "دَ لوئے فرات درياب دَ
غاړے نه هغه تړلے څلور فرښتے آزادے کړه." ۱۵ نو هغه څلور فرښتے آزادے کړے
شوے چه دَ دريمے برخے بنی آدمو دَ مړ کولو دَ پاره دَ دے کال، دَ دے مياشتے، دَ
دے ورځے اَؤ دَ دے ساعت دَ پاره تيارے کړے شوے وے. ۱۶ اَؤ ما دَ هغوئ دَ
رسالو دَ سوارو شمار شل کروړه واؤريدو. ۱۷ دغسے ما هغه آسُونه اَؤ دَ هغوئ سوارهٔ
په رويا وليدل، هغوئ دَ اور په شان زليدُونکی سرے، آسمانی رنگے اَؤ دَ گُوگړو په شان
زيړے زغرے ئے آغوستے وے. اَؤ دَ آسُونو سرُونه ئے دَ مزرو دَ سرُونو په شان وُو اَؤ
دَ خُلے نه ئے اور، لُوگے اَؤ گُوگړ راوتل. ۱۸ دا درے آفتُونه لکه اور، لُوگے اَؤ گُوگړ
چه دَ هغوئ دَ خُلے نه راوتل، په هغو ئے دريمه حِصه بنی آدم مړهٔ کړل. ۱۹ دَ آسُونو
طاقت په خُلهٔ اَؤ په لکو کښے هم وو ځکه چه لکئ ئے دَ مارانو په شان وے چه سرُونه
ئے وُو اَؤ په هغو ئے خلق عذابول.

۲۰ باقی پاتے شوے خلق چه په دے آفتُونو کښے مړهٔ شوی نهٔ وُو دَ خپلو عملُونو نه
توبه ونهٔ ويسته اَؤ نهٔ ئے دَ شيطانانو اَؤ دَ سرو زرو، سپينو زرو، دَ کوتو، دَ کاڼو اَؤ دَ
لرگو نه دَ جوړ شوی بُتانو دَ عبادت کولو نه توبه ويستله، کُوم بُتان چه کتلے نهٔ شی، نهٔ
آؤريدلے شی اَؤ نهٔ خوزيدلے شی. ۲۱ اَؤ نهٔ هغوئ دَ خپلو قتلُونو، دَ خپلے جادُوگرئ،
خپلے حرامکارئ، اَؤ نهٔ ئے دَ خپلو ډاکو نه توبه وويستله.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ۱ بیا ما یوه بله طاقتوره فرښته له آسمان نه په راکُوزیدو ولیده چه په وریځ
کښے ئے خپل ځان نغښتے وو اَؤ چه دَ بُوډئ ټال ئے په سر وو، څیره ئے دَ نمر په
شان ځلیده اَؤ پښے ئے دَ اور دَ ستنو په شان وے. ۲ اَؤ دَ هغے په لاس کښے یو
ورکوټے پرانستلے کتاب وو. هغے ښئ پښه په سمندر کیښودله اَؤ گسه پښه ئے په
مزکه کیښودله. ۳ بیا هغے دَ مزری دَ غړمبا په شان یوه لویه چغه وویستله اَؤ کله چه
هغے چغے کړلے نو اُووۀ تندرُونه وگړزیدل. ۴ ما دَ هغو اُوو تندرُونو دَ آوازُونو نه
پس لیکل خو ما دَ آسمان نه دا آواز واؤریدو چه "دا پټ وساته، هر څۀ چه اُوو تندرُونو
وئیلی دی، دا مه لیکه."

۵ بیا هغه فرښته چه ما په سمندر اَؤ مزکه ولاړه لیدلے وه هغے خپل ښئ لاس
آسمان ته اُوچت کړو. ۶ اَؤ په هغه چا ئے قسم وخوړلو چه تل تر تله ژوندے دے اَؤ
په آسمان، مزکه، سمندر اَؤ په دوئ کښے ئے هر څۀ پیدا کړی دی چه "اوس نور ډیل
نۀ دے په کار! ۷ خو هر کله چه دَ اُوومے فرښتے دَ سُرنا غږولو وخت راځی نو دَ
خُدائے پټ مطلب لکه څنگه چه هغۀ خپلو خادمانو نبیانو ته زیرے ورکړے دے، به
پُوره شی."

۸ هغه آواز چه ما له آسمان آؤریدلے وو، ما سره بیا په خبرو شو اَؤ وئے وئیل چه
"لاړ شه اَؤ په سمندر اَؤ په مزکه ولاړے فرښتے دَ لاسه هغه پرانستلے کتاب واخله."

۹ نو بیا زۀ هغے فرښتے ته لاړلم اَؤ ورته مے ووئیل چه ما له هغه پرانستلے
ورکوټے کتاب راکړه. نو هغے ووئیل چه "واخله اَؤ وئے خوره، دا به ستا خیټه ترخه
کړی سره دَ دے چه ستا په خُلۀ کښے به ئے خوند لکه دَ شاتو خوږ وی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٠ نو ما هغه ورکوتې پرانستلے کتاب دَ فرښتے دَ لاسه واخستو اَؤ ومې خوړلو اَؤ
په خُلهٔ ئے لکه دَ شاتو خوند راکړو خو چه مې تير کړو نو زما خيټه ئے ترخه کړه. ١١
بيا هغوئ ما ته ووئيل چه "ضروری دی چه بيا په ډيرو خلقو اَؤ قومُونو اَؤ ژبو اَؤ
بادشاهانو ته پيشن گوئی وکړے."

## دوه گواهان

١١ ١ ما ته دَ گز په شان يوه اُوږده لښته راکړے شوه اَؤ راته ئے ووئيل چه "اوس
پورته شه اَؤ دَ خُدائے کور اَؤ قُربان گاه کچ کړه اَؤ دَ عبادت کوُونکو تعداد شمار کړه.
٢ خو دَ خُدائے دَ کور بهرنے غولے مه کچ کوه ځکه چه هغه غيرو قومُونو له
ورکړے شوے دے اَؤ هغوئ به دا پاک ښار تر دوؤ څلويښتو مياشتو پورے پايمال
کړی. ٣ اَؤ زهٔ به خپل دوه گواهان دَ ټاټ جامے آغوستے دَ پيشن گوئی دَ پاره مقرر
کړم اَؤ دوئ به تر دولس سوه شپيتهٔ ورځو پورے نبوت کوی."

٤ دا هغه دوه دَ ښونهٔ ونے اَؤ دوه ډيوټُونه دی کُوم چه دَ مزکے دَ مالِک دَ وړاندے
ولاړ دی. ٥ که څوک دوئ ته نُقصان رسول غواړی نو دَ دوئ دَ خُلے نه اور راوريږی
اَؤ دَ دوئ دُښمنان به ونغړی اَؤ دغه شان به هغه هر څوک چه دوئ ته نقصان رسول
غواړی، مړهٔ شی. ٦ دوئ اِختيار لری چه آسمان بند کړی چه بيا دَ دوئ دَ نبوت په
دور کښے باران ونهٔ شی، اَؤ دوئ هم اِختيار لری چه له اوبو نه وينے جوړے کړی اَؤ
په مزکه دَ خپلے مرضئ په مُطابق آفتُونه راولی.

٧ اَؤ چه دوئ خپله گواهی پُوره کړی نو دَ عالم ارواح نه به ځنگلی ځناور راوزی اَؤ دَ
دوئ سره به جنگ ونښلوی اَؤ غالب به شی اَؤ مړهٔ به ئے کړی. ٨ اَؤ دَ هغوئ لاشُونه
به دَ لوئے ښار په کُوڅو کښے پراتهٔ وی، چرته چه دَ هغوئ مالِک هم په سولئ شوے
وو، چه دَ مِثال په طور ورته صدوم اَؤ مصر وئيلے شی. ٩ تر درے نيمو ورځو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورے به خلق، دَ هر خیل، دَ هرے ژبے اَوْ دَ هر قوم دَ دوئ لاشُونو ته ګورى اَوْ دَ دوئ
دَ لاشُونو دَ ښخولو اِجازت به ورنهٔ کړى. ١٠ دَ مزکے ټول خلق به ورته په سترګو
کښے خاندى اَوْ خوشحالئ به کوى اَوْ يو بل ته به ډالئ ورکوى ځکه چه دغو دوو نبيانو
دَ مزکے ټول خلق عذابول. ١١ خو دَ درے نيمو ورځو نه پس خُدائے په هغوئ کښے
دَ ژوندُون رُوح واچولو اَوْ هغوئ په خپلو پښو ودريدل اَوْ چا چه دا وليدل، هغه ټول
ويريدل. ١٢ بيا دوئ يو اُوچت آواز له آسمان نه واؤريدو چه وئيل ئے چه "دلته
راشئ!" اَوْ هغوئ په وريځو کښے آسمان ته لاړل اَوْ دُښمنانو هغوئ ته کتل. ١٣ هم په
دغه وخت يوه سخته زلزله راغله، دَ ښار لسمه حصه راوغورزيدله اَوْ اُووهٔ زره کسان په
دے زلزله کښے هلاک شول اَوْ نورو په ويره کښے دَ آسمانى خُدائے ثنا وئيله.

١٤ دويم اَفسوس تير شو خو دريم زر راتلُونکے دے.

## اُوومه سُرنا

١٥ بيا اُوومے فرښتے خپله سُرنا وغږوله اَوْ په آسمان کښے په زوره دا چغے
واؤريدے شوے چه : "دَ دُنيا بادشاهى زمُونږ دَ رب اَوْ دَ هغهٔ دَ مسيح ده اَوْ هغه به تل تر
تله حُکومت کوى!" ١٦ اَوْ هغه څليريشت مشران چه دَ خُدائے دَ وړاندے په خپلو
تختُونو ناست وُو، هغوئ پړمخے په سجده پريوتل اَوْ دَ خُدائے دا ثنا ئے ووئيله چه :

١٧ "اَئے ربه خُدايه! القادره! مُونږ ستا شکر کوُو، تهٔ چه ئے اَوْ چه وے، ځکه چه تا
خپل لوئے طاقت اَوْ بادشاهى په لاس کښے واخيسته. ١٨ قومُونه په قهر شول ځکه چه
ستا دَ قهر وخت راغلے دے، دَ مړو دَ عدالت کولو وخت راغلے دے، ستا دَ خادمانو
نبيانو دَ اَجر وخت راغلے دے، اَوْ ستا دَ پاکانو اَوْ دَ هغه ټولو لويو اَوْ وړو وخت چا چه
ستا دَ نُوم عزت کولو. اَوْ دَ هغو دَ تباه کيدلو وخت راغلے دے چه ئے مزکه تباه
کوى."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ په آسمان کښې دَ خُدائے کور پرانستے شو اَؤ په هغهٔ کښې دَ هغهٔ دَ وعدے
صندُوق ښکاره شو، نو بیا دَ بریښنا شُغلے، دَ تندر ګړزا، زلزله اَؤ دَ ږلئ طُوفان راغے.

## ښځه اَؤ اژدها

۱۲ ۱ بیا په آسمان کښې یوه لویه نخښه ښکاره شوه چه یوه ښځه وه چه نمر ئے
لکه جامے آغوستے وو اَؤ سپوږمئ دَ هغے تر پښو لاندے وه اَؤ په سر ئے دَ دولسو
ستورو تاج وو. ۲ هغے دَ حمل دَ تکلیف له کبله دَ زوزاد پیدا کیدو چغے وهلے.

۳ بیا یوه بله نخښه په آسمان کښې ښکاره شوه چه یوه غټه سره اژدها وه چه اُووهٔ
سرُونه اَؤ لس ښکرُونه ئے وُو اَؤ په سرُونو ئے اُووهٔ تاجُونه وُو. ۴ اَؤ هغهٔ په خپله لکئ
دریمه حصه ستورى له آسمان نه راکښل اَؤ په مزکه ئے راغورزول. اژدها دَ هغے
لنګیدونکے ښځے په وړاندے ودریده دَ دے دَ پاره چه هر کله چه دَ هغے ښځے بچے
وشی چه دا ئے لواړ تیر کړی. ۵ دَ هغے زوئے پیدا شو چه په ټولو قومُونو به دَ
اوسپنے دَ امسا په زور حکُومت کوی. خو دَ هغے بچے خُدائے اَؤ دَ هغهٔ تخت ته
سمدستی وخیژولے شو. ۶ اَؤ ښځه په خپله بیابان ته وتښتیدله چرته چه دَ هغے دَ
پاره خُدائے ځائے تیار کړے وو چه هلته تر دولس سوه شپیتو ورځو پورے پاتے شی.

۷ بیا په آسمان کښې جنګ ونښتو. میکائیل اَؤ دَ هغهٔ فرښتو دَ اژدها سره جنګ جوړ
کړو. اَؤ اژدها اَؤ دَ هغهٔ فرښتو جنګ وکړو. ۸ خو هغوئ فتح ونهٔ مُوندله اَؤ په آسمان
کښې دَ هغو دَ پاره ځائے نهٔ وو. ۹ نو دا لویه اژدها لاندے راوغورزولے شوه، دا هغه
زوړ مار چه شیطان یا اِبلیس بللے شی چه ټول عالم غُلوی، هغه دَ خپلو فرښتو سره
لاندے مزکے ته راګُذار کړے شو.

۱۰ بیا ما په آسمان کښې یو اُوچت آواز په دے شان واؤریدو چه ”اوس خلاصُون اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قُدرت اَؤ زمُونږ دَ خُدائے بادشاهی راغلے ده اَؤ دَ هغۀ دَ مسيح اِختيار، ځکه چه زمُونږ
په ورونړو اِلزام لګوُونکے چه شپه اَؤ ورځ زمُونږ دَ خُدائے په مخکښے پرے اِلزام لګوی،
له آسمان نه ګُذار کړے شوے دے. ١١ خو زمُونږ ورُونړه په هغۀ دَ ګډُوری دَ وينے په
وسيله اَؤ ګواهئ دَ کلام په وجه غالب شول، اَؤ خپل ځان ئے هم عزيز ونۀ ګڼلو تر دے
چه مرګ ئے هم قبُول کړو. ١٢ نو اَئے آسمانُونو! اَؤ دَ هغه اوسيدُونکو خلقو! ښادی
کوئ، خو اَئے مزکے اَؤ سمندره! اَفسوس چه اِبليس ډير په غُصه تاسو ته ښکته راغے
ځکه چه هغه خبر دے چه وخت ئے لنډ دے."

١٣ كله چه اژدها خپل ځان په مزکه راغورزيدلے وليدو نو هغه ښځے پسے شو چه
زوئے ئے راوړے وو. ١٤ خو ښځے ته دَ عقاب دوه لوئے وزرُونه ورکړے شول چه
هغه په بيابان کښے هغه ځائے ته والوزی چرته چه به هغه له مار نه تر درے نيم کالو
پورے محفوظه وساتلے شی. ١٥ مار دَ خپلے خُلے نه دَ اوبو يو سيلاب وبهيولو چه
هغه ښځه په کښے يوسی. ١٦ خو مزکے دَ ښځے مدد وکړو، خپله خُلۀ ئے واژه کړه
اَؤ دَ اژدها دَ خُلے هغه سيلاب ئے تير کړو. ١٧ په دے اژدها هغه ښځے ته نور هم په
غُصه شو اَؤ دَ هغے دَ نور نسل سره دَ جنګ دَ پاره لاړو، دا هغه خلق دی چه دَ خُدائے
حُکمونه منی اَؤ دَ عيسیٰ شهادت ساتی. ١٨ اژدها دَ سمندر په غاړه ودريده.

## دوه ځنګلی ځناور

١٣ ١ بيا ما له سمندر نه يو ځنګلی ځناور په راوتو وليدو. دَ هغۀ لس ښکرُونه اَؤ
اُووۀ سرُونه وُو، اَؤ دَ هغۀ په ښکرُونو لس تاجُونه وُو اَؤ په هر سر ئے دَ کُفر يو نُوم وو.
٢ ما چه کُوم ځنګلی ځناور وليدو، هغه دَ پړانګ په شان وو خو دَ هغۀ پښے دَ ميلُو په
شان وے اَؤ خُلۀ ئے دَ مزری په شان وه. اژدها هغۀ له خپل طاقت، بادشاهی اَؤ لوئے
اِختيار ورکړو. ٣ دَ هغۀ يو سر دَ مرګی يو ګُذار خوړلے وو خو هغه دَ مرګی پرهر ئے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ شوے وو اَؤ ټوله دُنیا په هغه ځناور پسے په حیرانتیا لاړه. ۴ سړو هغه اژدها ته
سجده وکړه ځکه چه هغهٔ خپل اِختیار ځنګلی ځناور ته ورسپارلے وو، هغوئ ځناور ته
هم سجده وکړه اَؤ دا ئے ووئیل چه "څوک دَ دے ځناور په شان دے، اَؤ څوک ورسره
جنګیدلے شی؟"

۵ ځنګلی ځناور ته دا اِختیار ورکړے شو چه غټے غټے اَؤ دَ کُفر خبرے وکړی، اَؤ
تر دوه څلويښتو مياشتو پورے دَ حُکومت واک ورکړے شو. ۶ هغهٔ په خُدائے پورے
دَ کُفر خبرے وکړلے اَؤ دَ خُدائے نُوم اَؤ دَ هغهٔ دَ آستوګنے ځائے اَؤ آسمانی مخلُوق
ته ئے کنځل شروع کړل. ۷ هغهٔ ته دا هم اِختیار ورکړے شو چه دَ پاکانو سره جنګ
وکړی اَؤ پرے غالب شی، اَؤ په ټولو خیلُونو اَؤ خلقو، ژبو اَؤ قومُونو اِختیار ورکړے
شو. ۸ اَؤ په مزکه ټول اوسیدُونکی به هغهٔ ته سجده وکړی بے له هغو نه دَ چا نومُونه
چه هغه حلال شوی ګډُوری دَ ژوندُون په کتاب کښے له ازل نه لیکلی دی.

۹ څوک چه آؤریدے شی هغه دِ واؤری. ۱۰ چا ته چه قیدیدل وی هغه به قید شی،
چا ته چه په تُوره قتل کیدل وی نو هغه به په تُوره قتل شی. په دے کښے دَ پاکانو زغم
اَؤ ایمان په کار دے.

۱۱ بیا ما یو بل ځنګلی ځناور ولیدو چه له مزکے نه راووتو، هغهٔ دَ ګډُوری په شان دوه
ښکرُونه لرل خو دَ اژدها په شان ئے خبرے کولے. ۱۲ هغه دَ اولنی ځنګلی ځناور ټول
اِختیار دَ هغهٔ په مخ کښے چلوی اَؤ هغه به مزکه اَؤ دَ هغے اوسیدُونکی مجبُور کړی چه
هغوئ اول ځنګلی ځناور ته سجده وکړی چه دَ چا دَ مرګی پرهر چه جوړ شوے وو.
۱۳ اَؤ هغهٔ لوئے مُعجزے کولے تر دے چه دَ خلقو په وړاندے دَ آسمان نه مزکے ته
اور وروی. ۱۴ اَؤ هغهٔ له دا اِختیار ورکړے شو چه دَ هغه ځنګلی ځناور په وړاندے
مُعجزے وکړی اَؤ دَ مزکے اوسیدُونکی وغلوی اَؤ هغوئ دے ته تیار کړی چه دَ هغه
ځنګلی ځناور په شان یو بُت جوړ کړی چه دَ تُورے ګُذار ئے خوړلے وو خو بیا هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندے وو. ⑮ اَؤ هغۀ له دا اِختيار هم ورکړے شو چه دَ اولنی ځنګلی ځناور په بُت
کښے ساه واچوی چه خبرے هم وکړی اَؤ هغه ټول کسان چه ورته سجده نۀ کوی، مړۀ
کړی. ⑯ اَؤ دا چه هغه په لويو وړو، شته منو اَؤ غريبانو، غُلامانو اَؤ آزادو په ښی لاس
يا په تندی يوه نخښه ولګوی. ⑰ اَؤ هيچا ته تر هغے دَ څۀ آخستلو يا خرڅولو اِجازت
نۀ وی تر څو چه دَ دے ځنګلی ځناور نخښه، نُوم يا دَ نُوم شمار پرے نۀ وی.

⑱ دغه دَ حکمت کُنجی ده اَؤ هر هغه څوک چه پوهه لری هغه دِ دَ ځناور دَ نُوم شمار
کړی، دا شمار دَ يو سړی دے اَؤ دَ هغۀ دَ شمار حساب شپږ سوه شپږ شپيتۀ دے.

## دَ يو لک څلور څلويښت زره کسانو حمد

**۱۴** ① بيا ما وليدل چه دَ صيُون په غرۀ ګډُورے ولاړ وو چه ورسره يو لک څلور
څلويښت زره کسان وُو چه په تندو ئے دَ هغۀ نُوم اَؤ دَ هغۀ دَ پلار نُوم ليکلے وو. ②
ما دَ آسمان نه يو آواز واؤريدو چه دَ سيلابی اوبو يا دَ تندر په شان وو، دا داسے آواز
وو لکه چه ډير خلق ستارُونه غږوی. ③ هغوئ هلته دَ تخت اَؤ دَ څلورو حيوانانو اَؤ
مشرانو په وړاندے يو نوے حمد وئيلو اَؤ دا حمد بے له هغه يو لک څلور څلويښت زرو
کسانو نه چه په بيعه آخستے شوی وُو، بل هيچا زده کولے نۀ شو. ④ دا هغوئ دی
چه دَ ښځو سره ئے خپل ځان ککړ کړے نۀ دے اَؤ خپل ځانُونه ئے پاک ساتلی وُو اَؤ
دوئ په ګډُوری پسے ځی هر چرته چه هغه ځی. دوئ دَ خُدائے اَؤ دَ ګډُوری دَ پاره له
بنی آدمو نه اولنے ميوے په طور آخستے شوی دی. ⑤ هغوئ هيچرے دروغ نۀ وئيل
اَؤ هغوئ پاک دی.

## دَ دريو فرښتو پيغام

⑥ بيا ما دَ آسمان په مينځ کښے يوه فرښته په الوتو وليده چه په مزکه ئے هر قوم اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خیل، ژبې اَؤ خلقو ته دَ تل زیرې ورکولو. ۷ هغې په زوره چغې کړې چه "دَ
خُدائے نه ویرېږئ اَؤ دَ هغهٔ ثنا وایئ ځکه چه هغه وخت راغلے دے چه هغه عدالت
کوی. اَؤ هغهٔ ته سجده وکړئ چه آسمان اَؤ مزکه، سمندر اَؤ دَ اوبو چینے ئے پیدا
کړې دی!"

۸ اَؤ هغهٔ پسے دویمه فرښته راغله اَؤ هغې چغې کړې چه "پړیوتو! هغه لوئے بابل
پړیوتو چه په ټولو قومُونو ئے دَ خپلے حرام کارئ قهرژن شراب څښلی دی!"

۹ اَؤ بیا وریسے دریمه فرښته راغله اَؤ داسے چغې ئے کړلے، "هر هغه څوک چه
ځنګلی ځناور ته اَؤ دَ هغهٔ بُت ته سجده کوی اَؤ دَ هغهٔ نخښه په تندی یا په لاس لګوی،
۱۰ هغه دِ دَ خُدائے دَ قهر شراب وڅښی کُوم چه هغهٔ په تیزنګ طور دَ خپل غضب په
پیالئ کښې تیار کړی دی. هغه به دَ پاکو فرښتو اَؤ دَ ګډُوری په وړاندے په اور اَؤ دَ
ګُوګړو په شُغلو کښې عذابولے شی. ۱۱ اَؤ دَ هغوئ دَ عذاب لُوګے به تل تر تله
راخیژی اَؤ هر هغه څوک چه ځنګلی ځناور یا دَ هغهٔ بُت ته سجده کوی یا دَ هغهٔ دَ نُوم
نخښه آخلی، هغوئ به نهٔ خو دَ شپې اَؤ نهٔ دَ ورځے آرام بیا مُومی."

۱۲ په دے کښې دَ پاکانو زغم دے، هغوئ چه دَ خُدائے حُکمُونه منی اَؤ دَ عیسیٰ
وفادار پاتے کیږی.

۱۳ اَؤ ما له آسمان نه یو آواز واؤریدو چه وئیل ئے، "دا ولیکه! بختور دی هغه څوک
چه له دے نه پس به په مالِک کښې مرهٔ کیږی!"

اَؤ رُوحُ القُدس وائی چه "هو، ځکه چه له دے نه پس به هغوئ له تکلیفُونو نه په آرام وی،
ولے چه دَ دوئ عملُونه به ورسره وی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ دُنیا لَو کیدل

۱۴ اَؤ بیا چه ما وکتل نو یوه سپینه وریځ رابښکاره شوه اَؤ چه په هغې څوک ناست وو
هغه دَ "اِبن آدمٔ په شان" وو. دَ هغهٔ په سر دَ سرو زرو تاج وو اَؤ په لاس کښې ئې تیرهٔ
لور وو. ۱۵ یوه بله فرښته دَ خُدائے له کور نه بهر راووتله اَؤ په وریځ ناست ته ئې په
اُوچت آواز چغې کړې چه "خپل لور وروغزوه اَؤ وریبه، ځکه چه دَ فصل وخت
راغلے دے اَؤ دَ مزکې فصل پوخ شو." ۱۶ نو هغهٔ چه په وریځې ناست خپل لور
مزکې ته وروواچولو اَؤ دَ هغې فصل وریبلے شو.

۱۷ بیا یوه بله فرښته دَ خُدائے له آسمانی کور نه راووتله اَؤ دَ هغې سره هم یو تیرهٔ لور
وو.

۱۸ اَؤ بیا یوه بله فرښته له قُربانګاه نه راووتله، دا هغه فرښته وه چه په اور اِختیار لری،
اَؤ هغې دَ تیرهٔ لور لرُونکی ته چغې کړلې چه "خپل لور وروواچوه اَؤ په مزکه دَ انګُورو
دَ بُوټِی فصل راغونډ کړه ځکه چه انګُور ئې پاخهٔ دی." ۱۹ نو هغه فرښتې خپل لور
وروواچولو اَؤ په مزکه ئې دَ انګُورو دَ بُوټِی فصل راټول کړو اَؤ هغه ئې دَ خُدائے دَ
غضب په هغه لویه ګانړۍ کښې وروواچولو. ۲۰ انګُور ئې له ښار نه بهر په ګانړۍ کښې
دَ پښو دَ لاندې کړې شول اَؤ تر درې سوه کلومیټره پورې له ګانړۍ نه دَ آسُونو تر واګو
پورې وینې وبهیدلې.

## فرښتې دَ آخری آفتونو سره

۱۵ ۱ بیا ما په آسمان کښې یوه لویه اَؤ عجیبه نخښه ولیدله، اُووهٔ فرښتې وې
چه ورسره له ټولو نه آخری اُووهٔ آفتُونه وُو، په دے آفتُونو دَ خُدائے قهر ختم شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ما وليدل چه دَ شيشې دَ سمندر په شان چه اور په کښې ګډ شوې وو، اَؤ دَ
شيشې دَ سمندر سره هغه خلق چه په ځنګلي ځناور اَؤ دَ هغهٔ دَ بُت اَؤ دَ هغهٔ دَ نُوم په
شمار غالب شوی وُو. دَ هغوئ په لاس کښې هغه ستارُونه وُو چه خُدائې ورله ورکړی
وُو. ۳ هغوئ دَ خُدائې دَ غُلام مُوسىٰ اَؤ ګډُوری حمدُونه داسې وئيل :

”اَئې مالِکه قادر مُطلق خُدايه! ستا کارُونه لوئې اَؤ عجيبه دی اَؤ ستا لارې دَ حق اَؤ
رښتيا دی، اَئې دَ قومُونو بادشاه! ۴ څوک به ويره ونهٔ کړی اَؤ ستا دَ نُوم لوئی به ونهٔ
کړی؟ ځکه چه تهٔ يواځې پاک يئې. ټول قومُونه به راشی اَؤ ستا په وړاندې به سجده
وکړی ځکه چه دا صفا ښکاره شوی دی چه ستا ټولې فيصلې دَ صداقت دی.“

۵ اَؤ له دې نه پس ما وليدل چه په آسمان کښې دَ شهادت دَ خيمې پاک ځائې
پرانستې شو، ۶ اَؤ دَ هغې نه اُووهٔ فرښتې دَ اُوو آفتُونو سره راووتلې اَؤ هغوئ
مهينې جامې آغوستې وې چه صفا اَؤ ځلقيدُونکې وې اَؤ په سينو ئې دَ سرو زرو
سينه بندُونه وُو. ۷ بيا په څلورو حيواناتو کښې يو هغه اُوو فرښتو ته اُووهٔ دَ سرو زرو
جامُونه ورکړل چه دَ خُدائې دَ قهر نه ډک وُو، دَ هغه خُدائې چه تل تر تله به ژوندې
وی. ۸ اَؤ دَ خُدائې کور دَ خُدائې دَ جلال اَؤ قُدرت له لُوګی نه ډک شو اَؤ تر هغې
هيڅوک ورننوتې نهٔ شو تر څو چه دَ اُوو فرښتو اُووهٔ آفتُونه پُوره شوی نهٔ وُو.

## دَ خُدائې دَ قهر جامُونه

۱۶ ۱ بيا ما دَ خُدائې له کور نه يو اُوچت آواز واؤريدو چه هغه اُوو فرښتو ته ئې
وئيل چه ”لاړې شئ اَؤ دَ خُدائې دَ قهر اُووهٔ جامُونه په مزکه توئ کړئ.“

۲ نو اوله فرښته لاړه اَؤ په مزکه ئې خپل جام توئې کړو اَؤ دَ ناسور خوراکی دانې
په هغه خلقو ښکاره شوې چه دَ ځنګلي ځناور نخښه ئې لرله اَؤ هغه بُت ته ئې سجده

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وه.

٣ اَؤ دویمے فرښتے خپل جام په سمندر کښے توئے کړو اَؤ دَ هغهٔ اویهٔ دَ مړی دَ
وینے په شان شوے اَؤ په سمندر کښے هر زنده سرے مړ شو.

٤ اَؤ دریمے فرښتے خپل جام په دریابُونو اَؤ په چینو کښے توئے کړو اَؤ وینے
شول. ٥ بیا ما واؤریدل چه دَ اوبو فرښتے ووئیل چه "اَئے قُدوسه خدایه! تهٔ چه یئے
اَؤ وے، تهٔ په خپل عدالت کښے صادِق یئے. ٦ ځکه چه هغوئ دَ پاکانو اَؤ ستا دَ
نبیانو وینے توئے کړے دی اَؤ تا هغوئ ته دَ څښلو دَ پاره وینے ورکړے، هغوئ دَ دے
لایق دی." ٧ اَؤ ما دَ قُربانګاه چغه واؤریده، هو مالِکه خُدایه! تهٔ په ټولو قادر یئے، ستا
ټولے فیصلے رښتینے اَؤ په حقه دی.

٨ اَؤ څلورمے فرښتے خپل جام په نمر توئے کړو اَؤ دا اِختیار ورله ورکړے شو چه
په خپلو شُغلو خلق وسیزی. ٩ اَؤ هغوئ بد بد وسوزیدل خو هغوئ دَ خُدائے په نُوم
کُفر ووئیل چه دَ دے آفتُونو دَ نازلولو اِختیار لری، اَؤ هغوئ دَ توبه ایستلو نه اِنکاری
شول اَؤ نهٔ ئے دَ هغهٔ ثنا ووئیله.

١٠ اَؤ پینځمے فرښتے دَ ځنګلی ځناور په تخت خپل جام توئے کړو اَؤ دَ هغهٔ په
بادشاهئ کښے تیارهٔ شوه. اَؤ خلقو دَ درد نه خپلے ژبے چیچلے، ١١ خو هغوئ دَ
خپل درد اَؤ دَ ناسُور په وجه آسمانی خُدائے ته کُفر ووے، اَؤ څهٔ چه هغوئ کړی وُو، له
هغے نه ئے توبه ونهٔ کړله.

١٢ اَؤ شپږمے فرښتے خپل جام دَ فرات په لوئے دریاب کښے توئے کړو اَؤ دَ هغهٔ
اویهٔ وچے شوے چه دَ نمر خاتهٔ دَ بادشاهانو دَ پاره لار تیاره شی. ١٣ بیا ما ولیدل چه
دَ اژدها دَ ځنګلی ځناور اَؤ دَ دروغژن نبی دَ خُلے نه دَ چیندخانو په شان درے ناپاک
رُوحُونه راووتل. ١٤ دا ناپاک رُوحُونه وُو چه مُعجزے ښئی، هغوئ دَ دے دَ پاره ځی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه دَ دُنیا ټول بادشاهان دَ خُدائے القادر دَ لوئے ورځے دَ جنګ دَ پاره راجمع کړی.

۱۵ ”ګورئ، دَ غل په شان درځم! بختور دے هغه چه بیدار وی اَؤ جامے ئے آغوستے وی ځکه چه هغه به بربنډ نۀ شی اَؤ خلق به دَ هغۀ شرم ونۀ وینی!“

۱۶ نو هغوئ بادشاهان هغه ځائے ته راجمع کړل چه په عبرانئ کښے ورته ارمِګدون وائی.

۱۷ بیا اُوومے فرښتے خپل جام په باد توئے کړو اَؤ دَ خُدائے دکور له تخت نه یو
اُوچت آواز راغے چه هغۀ وئیل چه ”دا وشوه!“ ۱۸ له دے نه پس دَ بریښنا شُغلے اَؤ
دَ تندر ګړزا اَؤ یوه دومره سخته زلزله راغله چه دَ بنی آدم دَ پیدایښت راسے چرے هم
نۀ وه راغلے. ۱۹ اَؤ هغه لوئے ښار په درے ځایه تقسیم شو اَؤ دَ دُنیا ښارُونه ونړیدل،
اَؤ خُدائے ته لوئے بابل رایاد شو بلکه دَ خپل غضب اَؤ قهر دَ شرابو نه ډکه پیاله ئے
هغۀ له ورکړه. ۲۰ هره یوه جزیره غایبه شوه اَؤ یو غر هم لیدے نۀ شو. ۲۱ اَؤ په بنی
آدمو له آسمان نه تقریباً پنځوس کیلو وزن برابرږلئ ووریدله اَؤ هغوئ دَږلئ په آفت
خُدائے ته کُفر ووئیل ځکه چه هغه آفت ډیر سخت وو.

## مشهُوره کنجرئ

۱۷ ۱ بیا هغه اُووه فرښتے چه جامُونه ئے نیولی وُو، په هغوئ کښے یوه ما له
راغله اَؤ وئے وئیل چه ”راځه! چه زۀ درته دَ هغے لوئے کنجرئ سره کیدُونکے عدالت
وښایم چه دَ ډیرو سمندرُونو دَ پاسه په تخت ناسته ده. ۲ دَ مزکے بادشاهانو دَ هغے
سره بدکاری کړے ده اَؤ دَ هغے دَ حرامکارئ په شرابو دَ دُنیا ټول خلق نشه شوی دی.“

۳ اَؤ دَ خُدائے رُوح په ما غلبه وکړه اَؤ دَ هغۀ فرښتے زۀ بیابان ته بوتلم. هلته ما یوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه ولیده چه په یو قرمزی رنګ ځنګلی ځناور سوره وه. دَ هغهٔ په ټول بدن دَ کُفر
نومُونه لیکلی وُو اَؤ اُووهٔ سرُونه اَؤ لس ښکرُونه ئے وُو. ۴ هغه ښځے ارغوانی قرمزی
رنګ جامے آغوستے وے چه دَ سرو زرو په کالو، جواهراتو اَؤ مرغلرو ډؤلے شوے
وه. دَ هغے په لاس کښے دَ سرو زرو پیاله وه چه دَ بے حیائی اَؤ دَ هغے دَ حرامکاریٔ
دَ ناپاکیٔ نه ډکه وه. ۵ اَؤ دَ هغے په تندی یو نُوم لیکلے وو چه راز دے : "لوئے بابل،
دَ کنجرو اَؤ دَ دُنیا دَ هرے بے حیائی مور." ۶ اَؤ ما ولیدل چه هغه ښځه دَ پاکانو په
وینه اَؤ دَ عیسیٰ دَ شهیدانو په وینه په نشه وه.

کله چه ما هغه ولیده نو زَهٔ ډیر حیران شوم. ۷ خو فرښتے راته ووئیل چه "دا تهٔ
دومره ولے حیران یئے؟ زَهٔ به درته دَ دے ښځے اَؤ دا چه په کُوم ځنګلی ځناور سوره
ده چه اُووهٔ سرُونه اَؤ لس ښکرُونه لری، راز ښکاره کړم. ۸ کُوم ځنګلی ځناور چه تا
ولیدو، هغه دے چه ژوندے وو خو اوس ژوندے نهٔ دے، هغه به دَ عالم ارواح نه
راخیژی اَؤ هلاک به شی. اَؤ په دُنیا کښے هغه خلق چه دَ چا نومُونه چه له ازل نه دَ
ژوندُون په کتاب کښے نهٔ دی لیکلی شوی، هغوئ به دَ ځنګلی ځناور په لیدو حیران شی
ځکه چه هغه یو وخت ژوندے وو خو اوس ژوندے نهٔ دے، خو بیا به هم ښکاره شی.

۹ اَؤ په دے پوهیدلو دَ پاره ډیر حِکمت په کار دے. دا اُووهٔ سرُونه هغه اُووهٔ غرُونه
دی چه دا ښځه پرے ناسته ده، خو دویٔ هم اُووهٔ بادشاهان دی ۱۰ چه پینځهٔ پخوا تیر
شوی دی اَؤ یو ژوندے دے اَؤ یو بل به راځی اَؤ کله چه هغه راشی نو هغه به دَ لږ وخت
دَ پاره وی. ۱۱ اَؤ هغه ځنګلی ځناور چه یو وخت ژوندے وو اَؤ اوس ژوندے نهٔ دے،
هغه اَتم بادشاه دے، خو بیا هم هغه له اُوو نه یو دے اَؤ هغه به هلاک شی.

۱۲ کُوم لس ښکرُونه چه تا ولیدل، هغه لس بادشاهان دی چه هغوئ لا حکُومت نهٔ دے
شروع کړے، خو هغوئ به دَ یوے ګینټے دَ پاره دَ ځنګلی ځناور سره دَ بادشاهیٔ اِختیار
ومُومی. ۱۳ ځکه چه دَ هغه ټولو یو مقصد دے چه خپل طاقت اَؤ اِختیار ځنګلی ځناور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ورکړی. ۱۴ هغوئ به دَ ګډُوری سره جنګ وکړی خو ګډُورے به په هغوئ غالب
شی ځکه چه هغه دَ مالِکانو مالِک اَؤ دَ بادشاهانو بادشاه دے، اَؤ هغوئ هم ورسره دی
چه بللی شوی، غوره شوی اَؤ وفادار دی.“

۱۵ بیا هغے ما ته ووئیل چه ”تا چه کُوم سمندر ولیدو چه لویه کنجرئ پرے ناسته وه،
دا دَ خلقو جمیعتُونه، قومُونه اَؤ ژبے دی. ۱۶ هغه لس ښکرُونه چه تا ولیدل، هغه به
سره دَ ځنګلی ځناور له دے کنجرئ سره دُښمنی کوی، هغوئ به دا بربنډه اَؤ برباده
کړی اَؤ دَ هغے غوښه به وخوری اَؤ په اور به ئے اِیرے کړی. ۱۷ ځکه چه خُدائے دَ
دوئ په زړُونو کښے دا خبره اچولے ده چه دوئ به په یو زړهٔ دَ خُدائے دَ مقصد دَ پُوره
کولو دَ پاره ځنګلی ځناور ته دَ خپلے بادشاهئ اِختیار ورکړی، تر څو چه دَ خُدائے
کلام پُوره نهٔ شی.

۱۸ دا ښځه چه تا ولیده هغه لوئے ښار دے چه دَ مزکے په بادشاهانو حکُومت کوی.“

## دَ بابل بربادی

۱۸ ۱ له دے نه پس ما یوه بله فرښته له آسمان نه په راکُوزیدو ولیدله اَؤ دَ هغے
لوئے اِختیار وو اَؤ مزکه دَ هغے په جلال رڼا شوه. ۲ بیا هغے په اُوچت آواز چغه
کړه، ”پریوت! لوئے بابل پریوتو! هغه دَ شیطانانو کور، دَ ټولو ناپاکو روحُونو اډه، اَؤ دَ
کرک ناکو اَؤ مُردارو مارغانو کور دے. ۳ ځکه چه ټولو قومُونو دَ هغے دَ بدکارئ
شراب څښلی دی، دَ دُنیا بادشاهانو دَ هغے سره بدکاری کړے ده، اَؤ دَ دُنیا سوداګرانو
دَ هغے دَ مستئ په سبب دولت راغونډ کړو.“

۴ بیا ما له آسمان نه یو بل آواز واؤریدو چه وئیل ئے : ”اَئے زما خلقو! له دے نه
رابهر شئ چه دَ دے په ګُناهُونو کښے شریک نهٔ شئ اَؤ چه دَ هغے په آفتُونو کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شامل نۀ شئ. ۵ ځکه چه دَ هغې گُناهُونه تر آسمانه رسيدلی دی اَؤ خُدائے دَ هغې
بدے چارے هيرے کړے نۀ دی. ۶ هغې ته دَ خپلو کړو بدله ورکړئ، هغې چه کُوم
کارُونه کړی دی، هغه دوه چنده ورکړئ، اَؤ هغې چه په کُومے پيالئ کښے گډ کړی
دی هغه دوه چنده گډه کړئ. ۷ هغې چه هر څومره لوئی اَؤ مستی وکړه هغه هومره
ورته عذاب اَؤ وير ورکړئ. هغه په زړهٔ کښے وائی چه زهٔ دَ تخت مالِکه يم، زهٔ به دَ
کونډو په شان ويرُونه نۀ کوم. ۸ په دے وجه به په هغې په يوه ورځ کښے آفتُونه
راشی يعنے، مرگ، قحط، ويره، اَؤ په اور به هم وسوزولے شی ځکه چه مالِک خُدائے
زورَور دے چه ئے دَ دے فيصله واؤروله.“

۹ دَ مزکے بادشاهانو چه دَ هغې سره بدکاری وکړه اَؤ دَ هغې په مستئ کښے گډ
شول، هر کله چه هغوئ دَ دے دَ سوزيدلو لُوگے ووينی نو هغوئ به پرے ژړا اَؤ وير
وکړی. ۱۰ هغوئ به لرے ولاړ وی اَؤ دَ هغې په عذاب به دَ ويرے دا وائی چه
”اَفسوس! اَفسوس په لوئے ښار دَ بابل! په زورَور ښار! چه تهٔ په يوه گينټه کښے برباد
شوے!“

۱۱ دَ دُنيا سوداگران به هم په بابل وير اَؤ ژړا کوی ځکه چه بيا به هيڅوک هم دَ هغوئ
نوره سودا وانهٔ خلی. ۱۲ دَ سرو زرو، دَ سپينو زرو، قيمتی کاڼو، دَ مرغلرو، مهينے
لټے، ارغوانی کپړے، دَ ريښمو قرمزی کپړے، دَ هر قسم دَ عُودو لرگی، دَ هاتی غاښُونه،
دَ هر قِسم لوښی، دَ قيمتی لرگی هر قسم لوښی، دَ زيړو، دَ اوسپنو اَؤ دَ مرمرو، ۱۳ دَ
دار چينی، مسالے، خُوشبوئ عطر، لوبان، مے، تيل، ميده، غنم، اَؤ څاروی، گډے،
آسُونه، گاډی، غُلامان اَؤ دَ بنی آدمو ځانُونه. ۱۴ هغوئ به وائی چه ”کُومے ميوے ته
چه ستا زړهٔ وو، هغه له تا نه تلے ده، ټول دولت اَؤ کِشش ورک دے اَؤ بيا به ئے
هيچرے ونهٔ مُومے!“ ۱۵ اَؤ دَ دے ټولو سوداگانو سوداگران چه ئے دَ دے په سبب
دولتُونه وگټل، هغوئ به دَ هغے دَ عذاب له ويرے لرے ولاړ وی، ژړا اَؤ وير به کوی،
۱۶ اَؤ وائی به چه ”اَفسوس! اَفسوس! په لوئے ښار چه دَ مهينے لټے اَؤ ارغوانی اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرمزی جامے به ئے آغوستلے اَؤ په سرو زرو قیمتی کاڼو اَؤ مرغلرو به ئے ځان
ښکلے کړے وو. ۱۷ اَفسوس! چه په یوه ګینټه کښے دولت برباد لاړو!“

بیا ټول دَ سمندری جهاز کپتانان، سمندری مُسافِران اَؤ ماڼګیان اَؤ هغه څوک چه په
سمندری ګټے خپله ګُزاره کوی، لرے ودریدل، ۱۸ اَؤ چه دَ هغے سوزیدونکی لوګے
ئے ولیدو نو چغے ئے کړے، ”دَ دے لوئے ښار په شان بل چرته داسے ښار نهٔ وو!“
۱۹ اَؤ هغوئ په خپلو سرُونو خاؤرے ونوستلے، ویر اَؤ ژړا ئے کوله اَؤ دا ئے وئیل
چه ”اَفسوس! اَفسوس! په هغه لوئے ښار چه دَ چا په دولت دَ سمندری جهازُونو مالِکان
مالدار شول، چه په یوه ګینټه کښے برباد شو!“

۲۰ اَئے آسمانه! اَئے پاکانو، رسُولانو اَؤ نبیانو! پرے خوشحالئ کوئ، په دے وجه چه
خُدائے په هغه فیصله وکړله څهٔ چه هغوئ په تاسو کړے وه.

۲۱ اَؤ بیا یوے قوتناکے فرښتے دَ ژرندے دَ یو غټ پل په شان کاڼے راواخستو اَؤ
سمندر ته ئے ورګُذار کړو اَؤ وئے وئیل چه ”دغه شان به دَ بابل لوئے ښار ونړولے شی
اَؤ بیا به ئے هیڅوک ونه وینی. ۲۲ اَؤ بیا به هیچرے په تا کښے دَ ستار، سندرغاړے،
شپیلئ اَؤ دَ سُرنا آوازُونه وانهٔ وریدے شی، اَؤ دَ یو کسب کسب ګر به هم په تا کښے
ونهٔ لیدے شی، اَؤ بیا به په تا کښے دَ ژرندے غرا وانهٔ وریدے شی. ۲۳ اَؤ نور به په تا
کښے دَ ډیوے رڼا ونهٔ لیدے شی اَؤ په تا کښے به بیا دَ زلمی اَؤ دَ ناوے خبرے وانهٔ
وریدے شی. یو وخت وو چه ستا سوداګران دَ دُنیا زورَور وُو اَؤ تا په خپل جادُو ټول
قومُونه وغلول.“

۲۴ دَ نبیانو دَ پاکانو اَؤ دَ هغه ټولو خلقو وینه په هغے کښے ومُوندلے شوه چه په
مزکه وژلی شوی وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ۱ دَ دے نه پس ما په آسمان کښے دَ ګڼو خلقو اُوچت آوازُونه واؤریدل،
هغوئ چغے وهلے چه "هِلِلُویاه! خلاصُون، جلال اَؤ طاقت زمُونږ دَ خُدائے دے! ۲
ځکه چه دَ هغهٔ فیصلے رښتینی اَؤ په حقه دی اَؤ هغهٔ دَ لوئے کنجرئ فیصله وکړه چا
چه په خپلے حرامکارئ دا مزکه ورانه کړه اَؤ دَ هغے نه ئے دَ خپلو خادمانو دَ وینے
بدل واخستو." ۳ هغوئ بیا چغے کړے چه "هِلِلُویاه! دَ بابل لُوګے تل تر تله خیژی!"
۴ اَؤ هغه څلیریشت مشران اَؤ څلور حیوانان خُدائے ته په سجده شول چه په تخت
ناست وُو اَؤ هغوئ هم چغے کړے چه "آمین، هِلِلُویاه!"

## دَ ګډُوری دَ وادهٔ میلمستیا

۵ بیا له تخت نه یو آواز راغے چه "اَئے زمُونږ دَ خُدائے ټولو خادمانو چه دَ هغهٔ نه
ویرېږئ، اَئے لویو اَؤ وړو! دَ خُدائے ثنا وایئ!" ۶ بیا ما دَ ډیرو کسانو "دَ سیلابی اوبو
اَؤ دَ تندر دَ ګړزا په شان" آواز واؤریدو اَؤ هغوئ چغے وهلے چه "هِلِلُویاه! مالِک
زمُونږ قادر خُدائے بادشاه دے. ۷ راځئ چه خوشحالیږُو اَؤ دَ خوشحالئ چغے
وباسو اَؤ دَ هغه لوئی بیان کړُو ځکه چه دَ ګډوری دَ وادهٔ ورځ راغلے ده اَؤ دَ هغهٔ ناوے
ځان سمبال کړے دے، ۸ اَؤ ورته دَ مهینے لتے جامے ورکړے شوی دی چه صفا
ځلقیدُونکے دی." اَؤ دا مهینه لته دَ پاکانو ښهٔ کارُونه دی.

۹ بیا فرښتے ما ته ووئیل چه "دا ولیکه : بختور دی هغه خلق چه دَ ګډُوری دَ وادهٔ
میلمستیا ته رابللی شوی دی!" اَؤ نور ئے ووئیل چه "دا دَ خُدائے برحق کلام دے."

۱۰ په دے زهٔ دَ هغهٔ په پښو کښے په سجده پریوتلم خو ما ته ئے ووئیل چه "نه،
داسے مه کوه! زهٔ هم دَ تا اَؤ ستا دَ ورُوڼو په شان یو خادم یم چه دَ عیسیٰ شهادت
لرے. اَؤ تش خُدائے ته سجده کوه."

ځکه چه دَ کُوم رُوح په تاثیر نبیانو کلام وکړو هم هغه رُوح دَ عیسیٰ په شان شاهدانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې دے.

## دَ سپين آس سوارۀ

۱۱ بيا ما آسمان پرانستلے وليدو اَؤ هلته زما په وړاندے يو سپين آس وو اَؤ دَ هغۀ دَ
سوارۀ نُوم وفادار اَؤ رښتينے دے، ځکه چه هغه په عدالت کښے اَؤ په جنګ کښے
رښتُونے دے. ۱۲ اَؤ دَ هغۀ سترګے دَ اور دَ شُغلو په شان دى اَؤ په سر ئے ډير تاجُونه
وُو. په هغه يو نُوم ليکلے شوے وو چه بے له دۀ نه پرے هيڅوک نۀ پوهيدو. ۱۳ اَؤ
هغۀ په وينو لړلے جامے آغوستے وے اَؤ دَ هغۀ نُوم دَ خُدائے کلام دے. ۱۴ اَؤ
آسمانى لښکرے په سپينو آسُونو سورے وريسے وے چه دَ سپينے اَؤ صفا مهينے
لټے جامے ئے آغوستے وے. ۱۵ اَؤ دَ هغۀ دَ خُلے نه يوه تيره تُوره راوزى چه
قومُونه پرے ووهى، ځکه چه هغه به په هغوئ دَ اوسپنے په امسا حکُومت کوى اَؤ دَ
ګُناهُونو دَ شرابو ګانړئ به دَ قادر مُطلق خُدائے دَ قهر اَؤ غضب دَ پښو لاندے مږى. ۱۶
اَؤ دَ هغۀ په چُوغه اَؤ په پتُون دا نُوم ليکلے دے چه : ”دَ بادشاهانو بادشاه اَؤ دَ مالِکانو
مالِک.“

۱۷ بيا ما يوه فرښته په نمر کښے ولاړه وليده اَؤ هغے دَ آسمان په مينځ کښے
الوتُونکو مارغانو ته آواز وکړو چه ”راشئ اَؤ دَ خُدائے په لويه ميلمستيا راجمع شئ.
۱۸ چه دَ بادشاهانو اَؤ دَ کماندارانو اَؤ دَ سپاهيانو غوښے، دَ آسُونو اَؤ دَ هغو دَ سورو
غوښے اَؤ دَ ټولو خلقو، غُلامانو اَؤ آزادو دَ لويو اَؤ دَ وړو غوښے وخورئ!“

۱۹ بيا ما وليدل چه ځنګلى ځناور اَؤ دَ مزکے بادشاهان اَؤ دَ هغوئ لښکرے دَ سوارۀ
اَؤ دَ هغۀ دَ لښکر سره په جنګ شول. ۲۰ اَؤ هغه ځنګلى ځناور بنديوان کړے شو اَؤ
دغسے هغه دروغژن نبى هم چه ئے دَ هغۀ په وړاندے مُعجزے ښکاره کولے اَؤ هغه
خوک ئے غُلول، په چا چه دَ ځناور نخښه وه اَؤ دَ هغۀ بُت ته ئے سجده کړے وه. دغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دواړه ژوندی هغه تالاب ته وغورزولے شول چه دَ ګوګړو شُغلے ترے ختلے. ۲۱ اَؤ
باقی په هغه تُوره ووژلے شول کُومه چه دَ سورو له خُلے نه راوتلے، اَؤ ټولو مارغانو دَ
هغوئ په غوښه ځانُونه ماړهٔ کړل.

## زَر کاله

۲۰ ۱ بیا ما یوه فرښته له آسمان نه په راکُوزیدو ولیدله چه ورسره دَ عالِمِ اَرواح
کُنجی اَؤ په لاس کښے ئے لوئے زنځیر وو. ۲ اَؤ هغه اژدها چه زوړ ښامار دے، هغه
ئے ونیوو، یعنے اِبلیس اَؤ شیطان، اَؤ تر زرو کالو پورے ئے وتړلو. ۳ فرښتے هغه
آخرے کندے دَ جهنم ته وغورزولو، بند ئے کړو اَؤ مُهر ئے پرے ولګولو، دَ دے دَ پاره
چه هغه بیا تر هغے قومُونه ونهٔ غُلوی تر څو چه زر کاله پُوره شوی نهٔ وی. دَ هغے نه
پس به هغه بیا دَ لږ وخت دَ پاره آزاد کړے شی.

۴ بیا ما تختُونه ولیدل اَؤ هغه خلق پرے ناست وُو چه دَ عدالت اِختیار ورکړے
شوے وو. ما دَ هغه خلقو رُوحُونه ولیدل چه سرُونه ئے دَ خُدائے دَ کلام اَؤ دَ عیسیٰ دَ
شهادت په وجه پریکړی شوی وُو، اَؤ هغه خلق چا چه ځنګلی ځناور یا دَ هغهٔ بُت ته
سجده نهٔ وه کړے اَؤ نهٔ ئے په لاس یا تندی دَ هغهٔ نخښه لګولے وه. هغوئ بیا راژوندی
کړے شول اَؤ دَ مسیح سره ئے تر زرو کالو بادشاهی وکړه. ۵ باقی مړی تر هغے
ژوندی نهٔ کړے شول تر څو چه زر کاله پُوره شوی نهٔ وُو. دا اولنے قیامت دے. ۶
بختور اَؤ قدُوس هغه دے چه په دے اولنی قیامت کښے شریک دے ځکه چه په داسے
خلقو دویم مرګ اِختیار نهٔ لری بلکه هغوئ به دَ خُدائے اَؤ دَ مسیح کاهنان وی اَؤ دَ هغهٔ
سره به تر زرو کالو پورے بادشاهی کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ شيطان شکست

٧ هر کله چه زر کاله پُوره شی نو شيطان به دَ خپلے بندى خانے نه را آزاد شی. ٨
اَؤ هغه به راشی اَؤ په څلور کُنجه دُنيا کښے به قومُونه وغُلوى، يعنے جُوج اَؤ ماجُوج،
اَؤ جنګ ته به ئے راجمع کړى چه دَ سمندر دَ شګو په شان بے شماره دى. ٩ نو
هغوئ دَ مزکے په پلنوالى راوختل اَؤ دَ خُدائے دَ پاکانو ديره اَؤ دَ هغهٔ محبُوب ښار ئے
راګير کړو، خو له آسمان نه اور پرے نازل شو اَؤ هغوئ ئے تباه کړل. ١٠ اَؤ هغوئ له
دوکه ورکوُونکے اِبليس دَ اور اَؤ ګوګړو تالاب ته وغورزولے شو چرته چه ځنګلى
ځناور اَؤ دروغژن نبى هم ورغورزولے شوے دے اَؤ هلته به په شپه اَؤ ورځ تل تر تله
عذابولے شی.

## دَ لوئے سپين تخت په وړاندے عدالت

١١ بيا ما يو لوئے سپين تخت وليدو اَؤ يو سړے چه پاس پرے ناست وو، دَ هغهٔ دَ مخ
نه مزکه اَؤ آسمان وتښتيدل اَؤ غائب شول. ١٢ ما لوئے اَؤ واړهٔ مړى دَ تخت دَ
وړاندے ولاړ وليدل اَؤ کتابُونه پرانستلے شول. بيا يو بل کتاب پرانستلے شو، يعنے دَ
ژوندُون کتاب. په دے کتابُونو کښے څهٔ چه دَ مړو دَ عملُونو ليکلى وُو دَ هغے په مُطابق
دَ هغوئ عدالت وشو. ١٣ سمندر خپل مړى چه په کښے وُو، ورکړل اَؤ مرګ اَؤ عالم
ارواح په خپله قبضه کښے چه مړى وُو، ورکړل اَؤ دَ ټولو عدالت دَ هر چا دَ خپل عمل
په مُطابق وشو. ١۴ بيا مرګ اَؤ عالم ارواح دَ اور تالاب ته وغورزولے شول، دَ اور
تالاب دويم مرګ دے. ١۵ اَؤ په دے کښے هغه کسان وغورزولے شول، دَ چا نومُونه
چه دَ ژوندُون په کتاب کښے درج نهٔ وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نوے آسمان اَؤ نوے مزکه

۲۱ ① بیا ما یو نوے آسمان اَؤ یوه نوے مزکه ولیده ځکه چه وړُومبنے آسمان اَؤ
وړُومبنۍ مزکه غائب شوی وُو اَؤ سمندر هم نهٔ وو. ② اَؤ ما پاک ښار، یعنے نوے
بیتُ المُقدس ولیدلو چه دَ خُدائے له طرفه له آسمان نه راکُوزیدو، اَؤ دا داسے تیار
کړے شوے وو لکه چه ناوے دَ خپل خاوند دَ پاره ښکلے تیاره کړے شوے وی. ③
ما له تخت نه یو اُوچت آواز واؤریدو چه دا ئے وئیل چه "ګورئ! اوس خُدائے دَ بنی
آدمو په مینځ کښے استوګنه کوی، هغه به دَ هغوئ سره اوسیږی اَؤ هغوئ به دَ هغهٔ اُمت
وی اَؤ خُدائے به په خپله دَ هغوئ سره وی. ④ هغه به دَ هغوئ دَ سترګو ټولے
اوښکے وچے کړی، هلته به نهٔ مرګ، نهٔ ویره، نهٔ ژړا اَؤ نهٔ درد وی ځکه چه وړُومبی
څیزُونه تیر شوی دی."

⑤ بیا څوک چه په تخت ناست وو، هغهٔ ووئیل چه "وګورئ! زَهٔ ټول څیزُونه نوی
کوم!" اَؤ هغهٔ ما ته ووئیل چه "دا ولیکه ځکه چه دا ټولے خبرے دَ اِعتبار لائقے اَؤ
رښتیا دی." ⑥ نو ما ته ئے ووئیل چه "وشو! الفه اَؤ اومیګه زَهٔ یم، الاول اَؤ الاخر زَهٔ
یم. هر څوک چه تږے وی زَهٔ به هغهٔ ته دَ ژوندُون دَ اوبو له چینو نه دَ څښلو حق ویړیا
ورکړم. ⑦ هر څوک چه غالب شی هغه به دَ دے وارث شی، زَهٔ به دَ هغهٔ خُدائے یم اَؤ
هغه به زما زوئے وی. ⑧ خو دَ ویریدُونکو، بے ایمانو، پلیتانو، قاتلانو، حرامکارانو،
جادُوګرانو، بُت پرستانو اَؤ هر قسم دروغژنو برخه به په هغه تالاب کښے وی چه په
کښے دَ ګوګړو اور بلیږی، اَؤ دا دویم مرګ دے."

## نوے بیتُ المُقدس

⑨ بیا په هغه اُوو فرښتو کښے چه دَ اُوو آخری آفتُونو ډک جامُونه ورسره وُو، یوه ما
له راغله اَؤ وئے وئیل چه "راځه! اَؤ زَهٔ به تا ته ناوے وښایم، یعنے دَ ګډُوری ښځه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درته وښایم.“ ۱۰ زهٔ دَ رویا په حالت کښې وم اَوْ فرښتې زهٔ یو لوئې اُوچت غر ته
بوتلم اَوْ دَ بیتُ المُقدس پاک ښار ئې راته وښئیلو چه دَ خُدائې له طرفه له آسمان نه
راکُوزیدو. ۱۱ هغه دَ خُدائې په جلال روښانه وو، دَ هغهٔ پړق دَ قیمتی جواهراتو په شان
لکه دَ زبرجدو صفا اَوْ دَ بلور په شان وو. ۱۲ دَ هغهٔ یو لوئې اُوچت دیوال وو چه په
کښې دولس دروازې وې اَوْ په هغو کښې دولس فرښتې وې، اَوْ په دروازو دَ بنی
اِسرائیلو دَ دولسو خیلُونو نُومونه لیکلی شوی وُو. ۱۳ نمرخاته ته درې دروازې وې،
قطب ته درې، سهیل ته درې اَوْ نمر پریواتهٔ ته درې دروازې وې. ۱۴ دَ ښار دَ دیوال
په بُنیاد کښې دولس کانی وُو اَوْ په هغوئ دَ ګډُوری دَ دولسو رسُولانو نومُونه وُو. ۱۵
کُومې فرښتې چه ما سره خبرې وکړلې، دَ هغې سره دَ سرو زرو یو ګز وو چه پرې
دَ ښار هغه دیوالُونه اَوْ دروازې ناپ کړی. ۱۶ اَوْ ښار په مربع شکل جوړ وو اَوْ څومره
چه اُوږد وو هغه هومره پلن وو، اَوْ هغهٔ په ګز دَ هغهٔ اُوږدوالے، پلنوالے اَوْ اُوچتوالے
چه یو برابر وُو، دوه نیم زره کیلومیټره وو، ناپ کړل. ۱۷ دَ هغه دیوال شپیته میټره
اُوچت وو، دا اِنسانی پیمانه وه چه فرښتې استعمالوله. ۱۸ دیوال دَ زبرجدو نه جوړ وو
اَوْ ښار په خپله دَ سُوچه سرو زرو نه جوړ شوې وو اَوْ دَ صفا شیشې په شان پړقیدو.
۱۹ دَ ښار دَ دیوال بُنیادُونه په قسما قسم قیمتی کاڼو ډولئ کړی شوی وُو چه اول دَ
بُنیاد کاڼے دَ زبرجدو وو، دویم دَ نیلم، دریم دَ شب چراغ، څلورم دَ زمرُد، ۲۰ پینځم دَ
سلیمانی، شپږم دَ عقیقو، اُووم دَ سنګ یشب، اَتم دَ فیروزې، نهم دَ طوپاز، لسم دَ یمانی،
یوولسم دَ سنګ سُنبلی اَوْ دولسم دَ یاقُوتو وو. ۲۱ اَوْ هغه دولس دروازې دَ دولسو
مرغلرو وې، هره دروازه دَ یوې مرغلرې نه جوړه وه. دَ ښار کُوڅې دَ صفا شیشې
په شان دَ سُوچه سرو زرو وې.

۲۲ ما په ښار کښې دَ خُدائې کور ونهٔ لیدو ځکه چه مالِک قادر مُطلق خُدائې اَوْ
ګډُورې دَ هغه ښار دَ خُدائې کور دے. ۲۳ اَوْ ښار ته دَ نمر یا دَ سپوږمئ دَ ځلیدو
حاجت نِشته ځکه چه دا دَ خُدائې په نُور روښانه دے اَوْ دَ هغهٔ ډیوه ګډورې دے. ۲۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دَ دے په رڼا به قومُونه گرزی اَؤ دَۀ ته به دَ دُنیا بادشاهان خپلے لوئی راؤړی. ۲۵ دَ
ښار دروازے به تړوله ورځ پرانستے وی اَؤ هلته به شپه چرے نۀ وی. ۲۶ دَ قومُونو
دولت اَؤ لوئی به دَۀ ته راؤړے شی. ۲۷ خو هیڅ ناپاک څیز به ورننوتے نۀ شی اَؤ نۀ
پلیت اَؤ نۀ دروغژن، خو صرف هغه دَ چا نُومُونه چه دَ گډُوری دَ ژوندُون په کتاب
کښے لیکلی دی.

۲۲ ۱ بیا فرښتے ما ته دَ ژوند دَ اوبو دریاب وښودلو چه دَ بلور په شان ړڼیدو اَؤ
دَ خُدائے اَؤ دَ گډُوری دَ تخت نه ۲ دَ ښار دَ سړک په مینځ کښے رابهیدلو. دَ دریاب
په دواړو غاړو دَ ژوندُون یوه ونه وه چه دولس ځله میوه ئے نیوله، دَ کال دَ هرے
میاشتے دَ پاره یوه. اَؤ دَ ونو پاڼے به دَ قومُونو دَ روغولو دَ پاره وے. ۳ اَؤ په هغه
ښار کښے به داسے هیڅ څیز مُوندلے نۀ شی چه خُدائے پرے لعنت کړے وی.

اَؤ دَ خُدائے اَؤ دَ گډوری تخت به هلته وی اَؤ دَ هغۀ خادمان به دَ هغۀ عبادت کوی. ۴
هغوئ به هغه مخامخ وینی اَؤ دَ هغۀ نُوم به ئے په تندو لیکلے وی. ۵ هلته به چرے
شپه نۀ وی اَؤ نۀ به هغوئ ته دَ ډیوے یا دَ نمر حاجت وی ځکه چه مالِک خُدائے به دَ
هغوئ رڼا وی، اَؤ هغوئ به هلته تل تر تله بادشاهی کوی.

## دَ عیسیٰ راتلل

۶ بیا فرښتے ما ته ووئیل چه ”دا خبرے دَ اِعتبار لائقے اَؤ رښتیا دی. مالک خُدائے
چه خپل رُوح نبیانو له ورکوی، هغۀ خپله فرښته راولیږله چه دَ هغۀ خادمانو ته هغه څۀ
وښایئ چه زر کیدُونکی دی.“ ۷ اَؤ ”یاد لرئ چه زۀ زر درځم! بختور دے هغه چه دَ
دے کتاب دَ پیشن گوئی خبرے منی.“

۸ اَؤ ما یوحنا، دا ټول ولیدل اَؤ آؤریدل اَؤ کله چه ما دا واؤریدل اَؤ ولیدل نو زۀ دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې فرښتې په پښو کښې په سجده پرېوتلم چا چه ما ته دا ښکاره کړی وُو. ۹ خو
هغې ما ته ووئيل، ”نه، داسې مه کوه! زَۀ خو ستا اَؤ ستا دَ ورُوڼو نبيانو اَؤ ځوک چه دَ
دې کتاب خبرې منی، په شان يو خادم يم. خُدائې ته سجده کوه!“ ۱۰ بيا هغې ما ته
ووئيل چه ”دَ پيشن گوئی خبرې په دې کتاب کښې پټې مه ساته ځکه چه دَ هغو دَ
پُوره کيدو وخت نزدې دے. ۱۱ اَؤ ځوک چه بدکاران دی، پرېږده چه بدکارُونه کوی،
اَؤ ځوک چه پليت دی، په خپلې پليتئ کښې دَ آخته وی. ځوک چه رښتينې وی هغه دِ
په خپله رښتينئ کښې پاتې شی اَؤ ځوک چه پاک وی هم دِ پاک پاتې شی.“

۱۲ ”هو! گورئ! زَۀ عيسىٰ زر درځم اَؤ خپل اَجر دَ ځان سره راوړم چه هر يو له دَ هغۀ
دَ عمل په مُطابق اَجر ورکړم. ۱۳ الفه اوميگه زَۀ يم، الاول اَؤ الاخر، ازل اَؤ خاتمه.“

۱۴ بختور دی هغه خلق چه خپلې جامې صفا وينځی، هغوئ به دَ ژوندُون دَ ونې حق
ومُومی اَؤ ښار ته به په دروازو ورننوزی. ۱۵ خو بهر به پليتان، جادُوگران اَؤ
حرامکاران، قاتلان اَؤ بُت پرستان اَؤ ټول هغه ځوک چه دروغ خوښوی اَؤ جوړوی پاتې
شی.

۱۶ ”ما عيسىٰ، خپله فرښته تاسو ته در ولېږله چه جماعتُونو له گواهی ورکړی چه زَۀ دَ
داؤد دَ خانگې اَؤ نسل نه يم اَؤ دَ صباوُون پړقيدُونکی ستورے.“

۱۷ رُوحُ القُدس اَؤ ناوے وائی چه ”راشه!“

اَؤ هر آؤريدُونکے دِ هم وائی چه ”راشه!“

اَؤ ځوک چه تږے وی، هغه دِ راشی، اَؤ ځوک چه ئې غواړی، دَ ژوندُون له اوبو نه دِ
وېړيا واخلی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ زَۀ هر چا ته دا خبردارے ورکوم چه دَ دے کتاب دَ پیشن گویو کلام دے آؤری،
که څوک دَ ځانه څۀ په کښے زیات کړی نو خُدائے به هغۀ ته په دے کتاب کښے بیان
شوی آفتُونه زیات کړی. ۱۹ که څوک دَ پیشن گویو دَ دے کتاب نه څۀ کمے وکړی نو
خُدائے به دَ هغۀ دَ ژوند په ونه اَؤ دَ مُقدس ښار نه دَ هغۀ حِصه واخلی چه په دے کتاب
کښے ئے بیان شوے دے.

۲۰ اَؤ څوک چه دَ دے خبرو شهادت ورکوی هغه وائی چه "هو، زَۀ زر درځم!"

آمین، مالِک عیسیٰ راشه!

۲۱ دَ مالِک عیسیٰ فضل دِ په تاسو ټولو وی، آمین.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.